وهمچنان شمارااامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

شهادت

ارگان نشراتي حزب اسلامي افغانستان

الهي لارښوونې

لوي خداي (ج) فرمايي .
آيا هغوي په ځمکه کې گرځېدلي نه وو چې دهغو خلکو عاقبت يې ليدلي واي چې له دوي نه مخکې تيرشويدي ؟ الله دهغو هرڅه پرهغو راوارول اوهمدغسې نتيجې ددغوکافرانو لپاره مقدري دي
سورة محمد (١٠)آيت

پانگوالي نظام او سوسياليزم دواړه بشري ستونزې نشي حل کولاي

گورباچوف

مسکو :
دروسيې جمهوررئيس گورباچوف تيره ورځ وويل لويديزبايد دځپل پرمختگ غوټي پرروس باندې ونه تپي .
دتاس آژانس دخبرمطابق گورباچوف دمکسيکو جمهوررئيس کارلوس سالنياس کورتاري ته چې دروس په سفرراغلي وو وويل چې نه پانگوالي نظام اونه هم سوسياليزم دبشري ستونزوحل وړاندې کولاي شي، هغه وويل موږ په ځرگنده ډيونوي تهذيب په لور په مخ ځو چې دهغې غوټه نشته . دتاس مطابق هغه وويل دېوې موږزامن هم پوښتنه نه وي، هغه زياته کړه پدې مباشت کې په لندن کې داوروصنعتي هيوادو مجلس ته به زه دغه فلسفه له ځان سره وړم ، چې دنړيوال تعاون لپاره دنوي شکل ضرورت دي ، هغه وويل موږدخبرات خبره نه کوو بلکې تولودگټې خبره کوو، داهيله کيداي شي چې لويديزمشران ددې فکر عقل او شعور ولري، هغه وويل دا ډيره ضروري ده چې
٤ مخ

شماره مسلسل (٣٤٧) سال چهاردهم ،شماره (٤٣)يکشنبه (١٦) سرطان ١٣٧٠ هـ .ش- (٢٥)ذي الحجه ١٤١١ هـ.ق- (٧)جولاي ١٩٩١م

ورور حکمتيار د نصرت مينې په جامعجومات کې د جمعې له لمانځه مخکې :

په افغانستان کې يوه دوامداره سوله هغه وخت راتلاى شي چې د پرديو په زور راغلې حکومت ختم شي

● دملل متحدد دوروستي پنځه فقره ايزي طرحې اساسي هدف دادي چې ددريو ډلو (مجاهدينو ، کمونيست حزب او سابقه واکدارا نو)ترمنځ خبري اترې پيل شي

● غرب غواړي چې د مؤقت حکومت ترنامه لاندې يو دايمي حکومت له بهرنه پر افغانانو تحميل کړي
٣ مخ

دکندهار په ولايت کې به دټولو جهادي قوتونو يوه گډه محکمه جوړه شي

کويټه - حوزه جنوب غرب - دچنگاښ ٩ مه :
دروان کال دچنگاښ دمياشتې په ٩ مه نيټه دافغانستان دجنوب غرب ولايتونو دټولو ميشته جهادي تنظيمونو قوماندانانو اودنوموړي حوزې ددفتر ونمايندگانو دځپلو ذات البيني اختلافونو دله منځه وړلو اوپه تيره بياد ملاتقيب اوحاجي اسدالله دروان جنجال دحل وفصل کولو په خاطريوه غونډه وکړه .
غونډه دقرآن عظيم الشان دځومبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه ووروسته بيادټولو جهادي تنظيمونو قوماندانانو اومسئولينو په ځپل وارسره خبري وکړې اوپه نوموړي حوزې پورې ترلږومرکزونو اوجبهودروانو ستونزو دهشيرجوارې لپاره لاندې پريکړه ليک صادرکړ .
١ - دهرتنظيم نظامي مسئولين اوعالمان به کندهارته ځي اوهلته به دسيمې دټولو قوماندانانو په ملگرې جنگ بندي کوي او مخالف جهتونه به ځپلو مرکزونه ستنيږي .
٢ - ليرل شوي هيئت به گډه محکمه جوړه وي اودامحکمه به بيادکندهار ولايت په بيلوبيلو ولسواليو ځپل نمايندگان ټاکي اودنوموړي لوئي محکمې ترامارت لاندې به په هره ولسوالي کې محکمې جوړيږي اودامحکمې به په گډه يوه مشترکه شوراجوړه وي اودسيمو ستونزې به ترغور لاندې نيسي .
٣- دهرتنظيم لخوا به ځلورځلور کسه قوماندانان دمجاهدينو په خوبه تعينيږي اوداقوماندانان به په ځانگړې توگه يوه بااصلاحيته شورا جوړه وي ترڅو دمحکمې پريکړې عملي کړي .
٤- سل کسه وسلوال مجاهدين له ټولو قوماندانانو لخوا غوښتل کيږي چې دامجاهدين دمحکمې دټولو فيصلوعملي کونکي اوملاتړوي .
٥- داتعين شوي محکمه چې هره فيصله ترسره کوي دابه منل کيږي .

ورورحکمتيار دسويس دبهرنيو چارو له معين جيکيوبي سره دافغانستان د ستونزې په هکله خبرې اترې وکړي.

پيښور :
دسويس دبهرنيو چاروووزارت معين په پيښورکې دافغاني مجاهدينو دتنظيمونو له ځينې مشرانو سره وکتل اودافغانستان دمسئلې په سربې دنظرونو تبادله وکړه . جيکوبي دحزب اسلامي افغانستان دامير وورحکمتيار سره اوږده غونډه درلوده چې دمسئلې په باب ورته پوره توضيحات ورکړل شول. ورور حکمتيار هغه ته ځرگنده کړه چې مجاهدين له نجيب اودهغه له گوند سره په هيڅ صورت ائتلافي حکومت نشي منلاي . نجيب دپردوله خوا تپل شوي اوزموږ دملت قاتل دي ، همداراز زياته يې کړه چې ظاهرشاه هم نشي کولاي زموږ په هيواد کې سوله راولي ، هغه اوس په ملت کې دپښې اېښودلو ځاي نه لري .
ورورحکمتيار دملل متحد طرحه هم پدغوالفاظوردکړه ويې ويل : ددې طرحې په اساس زموږ په ملك کې سوله نشي راتلاي .
په خبرونو کې راغلي چې دسويس وزيرجيکوبي داستادرباني، حضرت صبغت الله مجددي، قاضي محمدامين وقاد اوکريم خليلي سره هم خبري کړيدي .
دياددلووړده چې جيکوبي له دې وړاندې په کابل کې دنجيب دړژيم له مقاماتوسره هم ليده کاته کړي وو.

سومين حملهٔ قواي رژيم ملحد براي تصرف ولسوالي خان آباد به شکست قاطع مواجه شد

کندز - ١٥ :
خبرگزاري " انا " به نقل قول ازيك منبع جهادي ازولايت کندزخبرميدهد، که قواي رژيم ملحدکابل براي بارسوم ساعت پنج بجه صبح ٥ سرطان حمله وسيعي را جهت دوباره به تصرف درآوردن ولسوالي خان آباد آغاز نمودکه بامقاومت شديد مجاهدين روبرو گرديدو بتاريخ ٦ سرطان بعدازشکست فاحش دوباره به مرکز ولايت کندز عقب نشيني نمود .
خبرعلاوه ميکند : دراين حمله يکتعداد زيادي ازعساکر ومليشه هاي رژيم هلاك وبازخمي شده اند .
خبرمي افزايد : مجاهدين ازسنگرهاي تخريب شده قواي فراري رژيم يکمقدار زياد سلاح ومهمات را به غنيمت گرفته اند .
دراپورگفته شده که تاکنون ٨ الي ١٠ تن از افراد رژيم به هلاکت رسيده است .
هم چنان مجاهدين بتاريخ ٥ سرطان بالاي پوسته هاي مستقر درمنطقه " جرگزر" ولايت کندز حمله نمودند ، که درنتيجه يك پوسته فتح شش تن ازمليشه هاي دولتي هلاك وتعدادي ازآنهازخمي شدند .
طبق خبر : دراين نبرد مجاهدين يك ميل هاوان شش ميل کلاشينکوف ويك اندازه زيادي مهمات و مواد خوراکي را از قواي دشمن به غنيمت گرفتند .
درخبرگفته شده که : قواي رژيم ميخواست ازطريق ميدان هوائي بالاي مواضع مجاهدين حمله کند ،اما قبل ازاينکه قواي رژيم دست به حمله بزند مجاهدين درمنطقه شاخ تپه وده کلان که درمسيرراه اين قوابود،ماين گذاري نمودند که درنتيجه انفجار آن دوتانك زرهي دشمن با سرنشينان آن ازبين رفت درخبرعلاوه شده که قواي رژيم ملحد دراين حمله به شکست قطعي روبروشده است .
طبق همين خبر : رژيم کابل در شکست هاي پي درپي خود درميدان نبرد وبعدازشکست فاحش نيروهاي مسلح اش توسط مجاهدين درولسوالي خان آباد شهروحومه اين ولسوالي را ازتاريخ ٩
صفحه (٤)

المان اوشوروي د دوه اړخيز حفاظت تړون لاسليك کړ

المان - دچنگاښ ١٥ :
په رارسيدلي رپوټونو کې ويل شوي چې دالمان صدراعظم هلمتکول وائي دا به په لندن کې داوو صنعتي هيوادونو عالي جرگه کې دشوروي سره دغربيانو دمرستې دترلاسه کولو لپاره ځپل ټول وس په کار واچوي . کول پرون دشوروي دجمهوررئيس گورباچوف سره ترخبرو وروسته په يوه خبري کنفرانس کې وويل دي په بين المللي وجهي صندوق کې دشوروي دشامليدلو او نورو مثبتو اوعملي نتائجو انتظارکوي .
کول اوگورباچوف دواړو وويل چې ددوي دشپږ ساعته خبرواسامي موضوع دلندن عالي جرگه وه . دوي دغه راز په دواړو هيوادونو کې دپانگې اچولو دوه اړخيزه حفاظت په موضوع دالمان شوروي پوتړون هم لاسليك کړ .

کنفرانس ملي ايتوپيا حکومت انتقالي راتشکيل نمود

اديسه بابا ١٥ سرطان :
کنفرانس ملي ايتوپيا حکومت انتقالي را تشکيل کردکه قانون اساسي آنکشور را ازنوبنويسد وانتخابات را تادوسال ديگر برگزار کند . کنفرانس ملي که روز جمعه خاتمه يافت موافقه کردکه ولايات شمالي جدائي طلب ايريتريا ميتواند يك همه پرسي ويارېفرندم را درمورد استقلال آنولايت طي دوسال دايرکند .
مگر(ريساس آفورك) رهبرشورشيان ايريتريا گفت : اين ولايت هم اکنون خودرا مستقل دانسته وشايد انتظاريك ريفرندم را قبل ازانتخابات وتشکيل پارلمان نکشد

نجيب ودارودسته اش طرف اصلى قضيه افغانستان نيست

"انا " ١٣/٤/١٣٧٠ :
اسماعيل "صديقي " منشي کميسيون مشترك ٢٨ نفري همه تنظيم هاي جهادي افغانستان ضمن مصاحبه ، اخبارهاي منتشره درمورد کميسيون ناميرده را افواهات بيجا توصيف نموده گفت : اين کميسيون تاحال هيچ خبري را نشرنکرده است اخباريکه قبلا درارابطه به کارکميسيون نشر وپخش گرديده شايعات محض بوده است .

"کميسيون تنظيم هاي جهادي "

ناميرده علاوه نمود اين کميسيون قبل ازآنکه به امورات تسويد طرح دوره انتقال دولت اسلامي افغانستان آغازنمايد نکات ذيل را به توافق آراء تصويب نمود .
١ - نجيب ودارودسته اش در دوره انتقالي ويابعداز آن حق شرکت درحکومت را
صفحه (٤)

کامي ته دمهاجرينو دستنيدو توطئه شنډه شوه

پيښور - اشرقيه جومات - دچنگاښ ١٤ مه :
پدې وروستيو ورځوکې بعضي فاسداوداسلامي انقلاب دښمن شخصيتونه ددې لپاره چې دننگرهار ولايت دکامي

بنام خدائيکه بي اندازه مهربان نهايت بارحم است

سر مقاله

اسلامي حکومت له ظاهر او نجيب نه لاخه چې دلوديځ له قرار يانو به هم پاك وي

دافغان مومن ولس دويتو دنذرانې اوله حده دوتلې قربانۍ برکت ؤ، چې دگردې نړۍ محکوماتوته يې دځپلې رغنده اوخلاقې ايډيالوژۍ پرېنسټ دازادۍ پيغام اوتاثرورکړ . اوبيادې ته اپليدونکواوسرکشوولو لوگروه نړۍ دځپلوتوپانې لځوبه غبرگي واخيسته ، چې عکس العمل يې له روس نه تيرلې دختيزې اروپا ترېازاروتو اوکوځوبوري دسروبوتانو په ټولو راځرگندشو.
او دگورباچوف دا ننني اعتراف چې کمونيزم اودپانگوالي سېستم دانساني ربړودحل کومه لارورا پيدانه کړي شوه ، کومه تصادفي ،خبره نه ده .
گورباچوف دداسې يوه هيواداوگوندرئيس دي ، چې تېرونه يې گردوپلوپانو پرټوله نړۍ دحکومت کولو لپاره ملاتړلې وه ، اويه اصطلاح دکارگرانو اوزيارايستونکو فکري تغذيه له همدې مرکزه کيدله . دېوه تيوري ورکوونکي ځواك په توگه دومره په وازکومې دگورباچوف اعلان اوهغه هم دنړۍ دووستروااقتصادي سيستمونو دماتې اوناکامې خبرتيا دمحکومې اومظلومې نړۍ لپاره دنووهيلو ددروازې پرانيستونکې بنکاري . گورباچوف دېوه پانده کاپه غوندې پدې پوهيدلي ، چې پرصنعتي نړۍ واکمن ټولنيزسيستمونه دانسان په خيرنشي راتلي ،اودېوه نوي تهذيب پرلوردپون اړتيا محسوسوي ، خودروحانيت دښترالي له کبله يې پځپلي پيش گويې اوپيش بيني کې نشي په تنبه کولي.
خودکمونيزم اوپانگوالي له ماتې وروسته نړۍ کومه هراړخيزه اجتماعي تگلاره نه لري، چې دا انخلا پري ډکه کړي، اوکه څوك يې مني اوکه نه داځاي خامخاداسلام مقدس دين ته پاتي دي. اونړيوال بيايه ځانگړې ډول لويديځ اونورصنعتي هيوادونه مجبوردي، چې دمادي ستونزو اواخلاقي جرايمودمخنيوي لپاره که وي که نه وي، په جبري ډول به داسلام پرژغوروونکي برنامي تجربي کوي، اوداځل به اسلام دميدان له فتحي وروسته دعلم نړۍ هم فتحه کوي. همدامسايل دي، چې نړيوال کفراسلام اومسلمانانوته په اوبوکې خولې بنکاري دکمونيزم ماتې په اصل کې دېوه افالي تهذيب پرلوريوگام ؤ، چې واخيستل شوه دمثال په ډول پانگوالي دکمونيزم په وړاندې دشکست مخه خپله کړه اوبيا کمونيزم دټولې نړۍ دواکمني دعوه زمزمه کړه ، خواوس چې کمونيزم دچاله خوابلي دنياته ولېږل شو، هغه اسلام اومسلمانان دي، خوبه دومره توپيرچې دمسلمانانودابري بايد تش جنگي مهارت اوجغرافيايي موقعيت ونه گڼل شي، بلکې داهغه لوړه اوعالي روحيه وه ، چې په ربنتياهم انسان دانسان له سکيلاك اوزبيناك ژغوري، اودخداي (ج) دقانون دسيوري لاندې يې دمه کوي . ټولگه دپوونتې بيلگې په رڼاکې داحکم کولي شو، چې راتلونکې زمانه داسلام ده . اوهمداويره وه ، چې دپوې
٤ مخ

بيائيد همه با هم درسه جبهه منبر ، سنگر و دفتر با دشمنان اسلام وجهاد مبارزه نمائيم

انحلال پیمان نظامي وارسا دریك نگاه

اعزامي

بنابرگزارش رسانه هاي خبري رهبران شش کشور باقیمانده درپیمان نظامي وارسا (روسیه ، بلغاریه ، چکوسلواکیه ، رومانیه ، مجارستان ولهستان) درنشست اخیر خویش در پراگ ، سندي را امضا کردند که بموجب آن بخش سیاسي پیمان وارسا رسماً منحل اعلان گردید . (ناگفته نماند که تشکلات نظامي این پیمان دراپریل گذشته منحل گردیده بود)ریاست جلسات انحلال پیمان وارسا را ورسلوف هاپل رئیس جمهور چکوسلواکي بعهده داشت.

اتحادیه نظامي کشور هاي اروپاي شرقي تحت رهبري روسیه مدت ۳۶ سال بعنوان مدافع سوسیالیزم درجهان عمل کرد وطي این مدت کشور هاي نامبرده در بسط وتوسعه اهداف استعماري روسیه از هیچگونه تلاشي مضایقه نورزیدند. نشانه هاي افول پیمان نظامي وارسا که مدت تقریباً چهارده برنیمي از کره ارض فرمان میراند ،وقتي مسجل گردید که در سال ۱۹۸۹ کشورهاي اروپاي شرقي یکي پي دیگرباکمونیزم وداع گفتند واحزاب کمونیستي با قرارگرفتن در برابر خشم مردم این خطه از کرسي اقتدار کنارزده شدند وروسها مجبور به فراخواندن عساکر خو دازکشورهاي مزبورگردیدند.

رشته ایکه کشورهاي اروپاي شرقي رابهم پیوند میداد ، تارخام مارکسیزم بود، همزمان باپالا گرفتن زمزمه انحطاط مارکسیزم ،بنیان اتحادیه ها، پیمان هاي سیاسي ونظامي کمونیستي درکشورهاي اروپاي شرقي متزلزل گردید ، زیرا جبهه گیري هاي سیاسي ونظامي منوط به حیات نظام هاي سوسیالیستي وایده لوژي وابسته به آن بود ، آنگاه که مردم اروپاي شرقي بیزاري خویش راازکمونیزم اعلان کردند ، دیوار آهنین برلین رادرهم شکستند واحزاب کمونیستي را از کرسي اقتداریه دور انداختند ،طبعاً که دیگرموجودیت اتحادیه نظامي وارسا مورد نداشت وباید هم منحل میگردید.

زمامداران کرملین پیش بیني کرده بودند که با وقوع رویداد درهم شکستن دیوار برلین ووحدت دوآلمان دیگرمجالي براي ادامهٔ پیمان وارسا باقي نمیماند وبهمین خاطر درآن هنگام آنها به امریکا ومتحدین آن پیشنهاد کردند که پیمان هاي وارسا وناتوهردو بایست همزمان منحل گردند . مگر غربي ها با این پیشنهاد محتاطانه عمل کردند وباعجله پاسخ ندادند ، باآنهم روسهاچاره⸍ جزانحلال پیمان وارسانداشتند . اگر کشورهاي غربي نیز باتقلید از ممالك بلاك شرق،حاضر به انحلال پیمان نظامي ناتوگردند ، یقیناً که نگراني بشریت ازخرابي هاي عالمگیرجنگ جهاني سوم مرفوع میگردد وبراي کشور هاي جهان سوم این فرصت دست میدهد تا هزینه هاي هنگفت مالي خود را بجاي اینکه صرف تهیه تسلیحات نمایند ، براي انکشاف عقب ماندگي هاي اجتماعي واقتصادي بکاربگیرند . هکذا براي کشور هاي وابسته به پیمان هاي نظامي وارسا وناتو این زمینه مساعد میگردد تاسرمایه هاي گزافي که قبلاً صرف اموردفاعي مي کردند درجهت تعمیم آسایش بشریت تخصیص بدهند.

انحلال پیمان نظامي وارسا را جهانیان خصوصاً امت مسلمه وبالاخص مجاهدین مسلمان افغانستان به فال نیك میگیرند،زیرا انحلال پیمان وارسا بیانگر ضعف و سخافت طرزتفکریست که این پیمان بر مبناي آن استوارو براي حفظ وگسترش آن بنیانگذاري شده بود، انحلال پیمان نظامي وارسا بیانگر شکست وبطلان طرز فکر کمونیسم درجهان است ولله الحمد مسلمانان توانستند که درصحنه عمل حقانیت ایده لوژي خود را به اثبات برسانند، وبه سیاهي روي عاشقان سینه چاك جامعه اشتراکي وهواخواهان کمون اولیه ،این پیروزي سترگ را جشن بگیرند.

شاید بسیاري از صاحبنظران را عقیده برآن باشد که نقطه آغاز سقوط وورشکستگي کمونیزم از اروپا باشد وآنرا به شکستن دیوار برلین وپیوستن آلمان شرق به جامعه آزاد وقیام مردمان اروپاي شرقي علیه حاکمیت کمونیزم مربوط بدانند، مگر حقیقت امر اینست که طلسم زور گویي وشکست ناپذیري نظام سوسیالیستي را مجاهدین مسلمان افغانستان درهم شکستند وبراي تمام ملت هاي اسیر ومحکوم استکبار روسیه درس آزا دي خواهي از سلطه جابرانه کرملین را دادند . برهیچکس پوشیده نیست که بعد ازجنگ جهاني دوم ،براي نخستین بارقشون سرخ طعم تلخ شکست رادر میادین نبرد حق وباطل افغانستان چشید وبایکعالم خفت و رسوایي ازین کشور عقب زده شد . شکست نظامي وفکري روسها درافغانستان نقطه آغاز سقوط سیادت نظامي ووجاهت فکري کمونیزم بود وبالالهام ازحماسه جاویدانه مجاهدین افغان تمامي ملت هاي محکوم علم آزادي وشرف را از زیر سلطه کرملین بلندکردند. نسبت تفرقه واختلاف امت مسلمه بجاي اینکه از زوال کمونیزم وانحلال پیمان نظامي وارسا مسلمانان بیشتر ازدیگران بهره برداري کنند، برعکس غربي ها چنین بهره رامي برند و نظام سرمایه داري وایدئولوژي جانشین سوسیالیزم به روسها پیشکش میکنند وشاید هم که کشور هاي صنعتي غرب در دیدار قریب الوقوع شان با گرباچف رهبر روسیه [illegible] وعده وعید هاي به نامبرده مبني برکمک هاي روسیه از ورطه هولناک اقتصادي چنین پیشنهادي رابلایند، حالانکه لازم است که مسلمانان ازین رویداد حد اعظمي سود را ببرند ، وبالاي کشورهاي غرب هم فشار بیاورند تا به تعقیب انحلال وارسا ، پیمان ناتو را که سپري درمقابل وارسا بود هم منحل نمایند، تاصلح به مفهوم حقیقي آن درجهان مصداق پیداکند ومسلمانان به معیت جمیع آزادیخواهان جهان ازاسارت استکبار جهاني نفس راحت بکشند.

ملګري ملتو نه دافغان مسالي په باب دخپلي طرحي دتطبیق په هڅه کي

فدا محمد «فایض»

داخوټولي نړۍ ولیدل چې روسي وحشیانو دټولو نړیوالو قوانینو په ماتولو سره زموږ پرهیواد تیري وکړ اودا تقریبا دیارلس کاله کیږي چې زموږ په هیوادکې دروسانو اودهغوی دپرېځو دجنایتوله کبله دوینو لښتي بهیږي اوګردهیواد موهسي په یوه شاړه بدل شوی، خوتردي وروسته چې په افغانستان کې کومي وینې تویږي تروسانو زیات دامریکا زړه راښکون یکې مطرح دي ځکه اوس امریکا له روسانو سره په ګډه دنجیب دپاینښت لپاره دکابل له ګوډاګي رژیم سره مرسته کوي که دامرستي نظامي نه دي نواقتصادي اوسیاسي خوحتمي دي .

داخبره خولااوس زړه شوي چې امریکا دمباشتي دري ملیونه ډالره نجیب ته دبیا رغاونې په نامه ورکوي . ښکاره ده چې داکومك یوازي دنجیب دبقا لپاره کیږي اوکنه نویه داسې حال کې چې زموږپه هیواد کې دجګړې ډګرښه توددي اونجیب روسي سکه توغندي لکه دحافظ غونډاري هرلورته ولي ، کلي اوکورونه ورانوي ، خلك وژني اوروسي الوتکي هم هره ورځ بمونه اوروي نوپه افغانستان کې دبیا ودانولو پروسه څه معنا لري ! داخو هله چې زموږ له ملك نه دتجاوز لاس لنډ، سوله اوامن اعاده او دخلکو په خوښه یومنتخب اسلامي حکومت چې زموږ ولس په دې هیله څه لپاسه یونیم ملیون شهیدان ورکړل ، کورونه اوکلي یې وران شول اوزیات شمیریې له هیوادنه بهرپه هجرت کولو اړشول، جوړشي .

خبرېدې خوټول پوهیږو داداستعمارهمیشني رذیلانه خوېونه دي امریکاله یوي خوا دافغان ولس دحقونو دملاتړخبري کوي اوله بلې خوایي له قاتل سره مرسته کوي .

حقیقت داډي چې امریکا هغه وخت عملاً دافغان جهاد اوافغان مومن ولس دسپېڅلو هیلو پرخلاف ودریده چې پدي پوه شوه چې نورنوسوریېږدافغاني شاځلمیه لاسو راوپرځیده اوبیایې نوپه آسانې سره بیرته راپورته کیدل ممکن نه دي . کله چې امریکا پوه شوه چې دسترې بلا دراپرځیدوسره اوس په افغانستان کې داسلامي حکومت رغاونه یوه حتمي خبره ده نوبیې دروس اوپروزیوي کړ، چې راځه اوس دواړه په افغانستان کې داسلامي حکومت دجوړیدو دمخنیوي لپاره همکاري پیل کړو. روس خوداسي شیبي په ارمان و اوله خدایه یې داسې ساعت غوښت .

امریکا هغه وخت دافغان ربړې په اړه له روس سره په یوه لار روانه شوه چې دژېنو تروسوا اوشرمیدلي ترون دمخه یې په ژنیوکې یوه پټه کتنه وشوه کله چې امریکا پوه شوه چې دپاکستان جمهوررئیس جنرال محمدضیاء الحق ددي جهاد ضدطرحي دتطبیق په لارکې خنډدي نویې دهغه دشهیدولو ناځوانمردانه اقدام هم وکړ دژنیو ترون دروس اوامریکا دهمدې پټوتوافقاتوپه نتیجه کې امضا شو ستاسي به په یادوي چې ګرباچوف دژنیو ترون دلاسلیکیدونه څوورځې دمخه داخبره وکړه چې که دژنیو ترون لاسلیك شي اوکنه موږله افغانستان نه خپل پوځونه وباسو. نو څه هم چې داخودروس یومجبوریت هم وچې نوربايد له افغانستان نه ووځي لیکن دامریکا سازشونو روسان پدې بېښې واوه کړل چې نوربې نوپه افغانستان کې پاتې کیدل نه په ګټه دي اونه یې ورته څه ډېرضرورت شته .

خوددې ټولو خبروسره سره باید دایوټکې په یام کې ولرو چې دیوه مجاهد اوپه خداي مین ولس دسپېڅلوهیلو او آرمانو په خلاف ګام پورته کول نه څه آسانه خبره ده اونه داسې په اسانه بریالیتوب ته رسیداي شي موږولیدل چې دژنیو ترون دروس اوامریکا دسازش په نتیجه کې لاسلیك شو داسې چې دپاکستان دهغه وخت ناعاقبت اندیشه صدراعظم هم په دې سازش کې ورګډشو خودانړون پرته لدې چې دروسانو دوتلو لپاره یوه ظاهرا څه نسبي قانوني لاره پرانیزي نوربې هیڅ کومه ګټه نه درلوده ، نه په افغانستان کې جهادوځنډیدو اونه روسانو او روسي پرېڅو آرامه شپه تیره کړاي شوه .

اوس چې دژنیو ترون بیخي دخلکو له ذهنونو ووت امریکا اوروس یوه پله دسیسه رامنځته کړه چې هغه دافغانستان دمسالې دسیاسي حل په باب دملګرو ملتو دخنداوړ طرحه .

که څه هم دملګرو ملتو اداره خوپه ظاهره یوه داسې نړیواله اداره ده چې باید دنړیوالو ستونزو دحل په باب یومستقل اقدام وکړاي شي اوددې اداري غړي هیوادونه باید دهغې پریکړې دیوه مصلح منځګړې دپریکړې په توګه ومني، مګرددې اداري ترشاداستعماري ځواکونو لاس اوس دومره څرګند دي چې که وداېوچې وانده یې هم لیدلاي شي تومبالغه به مونه وي کړي ، ناسي دملګرو ملتو دموسي نقش دنړیوالو پیښو له جملې نه یوازي دافغانستان اوخلیج په ورورستي مسئله کې په یام کې وتیسي ، روسانو دټولو بین المللي قوانینو اوخپلوکړو ژمنو په ماتولو سره پرافغانستان یرغل وکړ اوپه افغانستان کې یې چې کوم جنایات وکړل اولري یې لااوس هم روانه ده زموږ خو سترګولیدلي حال دي خوتړیوال هم تري ښه خبردي مګر ملګروملتوپرته لدې چې په خپلو کلنیو غونډوکې پریکړه وکړي چې روسان دي له افغانستان نه ووځي نوربي هیڅ کوم موثر اقدام ونکړ نه یې پرې اقتصادي بندیزونه ولګول اونه یې دزور داعمال پریکړه وکړه داځکه چې دادروس اوامریکا دواړو دغوښتنو پرخلاف حرکت و،خو کله چې دخلیج په مسئله کې روس اوامریکا دواړو غوښتل چې دعراق زور اوبه کړای شي نوهم یې پرې < اقتصادي بندیزونو پریکړه وکړه اوهم دنظامي عملیاتو اودااوس چې پرعراق کوم شرایط منل کیږي اوعملي کیږي داخوهیڅ یوه آزاد هیواد ټولني حتی یوه انسان ته هم دمنلو وړنه دي . دملګرو ملتوموسسي خو دعراق پرضد دعملیاتو پریکړه ددې لپاره کړې وه چې عراقي پوځونه له کویټ نه وباسي مګراوس چې عراقیان له کویټ نه وهم وتل اوکویټ آزادهم شوګورو چې استعمار پرعراق څه نادودې راځښي! اوس په نوداراسره ومنی چې د ملګرو ملتو اداره دنړیوال داستعماري ځواکونو داستعماري اعمالو اوحرکاتو دتوجیه یوه اداره ده نه دنړیوالو ستونزو دحل کومه قانوني مرجع .

دملګرو ملتو اداري چې اوس داستعمار (روس – امریکا اوانډیوالان یې) په تغوته دافغان ربړې دسیاسي اوارې لپاره کومه طرحه جوړه کړې داستعمار لاس په هغې کې له وړیه ښکاري . داطرحه په داسې مهارت جوړه شوي چې دشاتویه منځ کې یې زهرځاي پرځاي کړیدي ، ښه ده چې ددې طرحي مفردات له نظره تیرکړو .

۱– دافغانستان حاکمیت ، سیمه ایزې سالمتیا، سیاسي خپلواکي اوناپیبللي اسلامي دریځ ساتنه .

۲– دافغان ولس ددې حق منل چې دخپل حکومت ، سیاسي، اقتصادي اوټولنیز نظام په باب پخپله پریکړه وکړي اوهیڅ ډول بهرني لاسوهنه پکې نه وي .

۳– دیوې عبوري دورې لپاره دې دافغاني ډلو ترمنځ دتفاهم په نتیجه کې یوپراخ تاداوه حکومت جوړشي ، ددې هدف لپاره دې په اورپند سلاوشي اوترهغې وروسته دې دکیدونکو انتخاباتو لپاره دملګرو ملتو ياکوم بل موزون نړیوال تنظیم مرسته ترلاسه کړاي شي .

٤– دذکرشومرحلو اوانتظاماتو لپاره دافغان ربړې دټولو خواوورضایت ترلاسه کول .

٥– دافغان مهاجرینو دستونزو اوارې ، اوهیوادته دتګ لپاره یې مناسب حالات رامنځته کول، دافغانستان داقتصادي او ټولنیزي بیارغاونې لپاره مناسب حالات اووسایل برابرول که چیري داطرحه په ښه غوراوڅیرسره وکتل شي نومرکزي ټکي یکې دادي چې مجاهدین باید له جنګ نه لاس واخلي، نجیب اودهغه ګوند په رسمیت وپیژني ، نجیب اودهغه ګوند دهیواد ددولس کلنې جګړې دعامل ، یونیم ملیون شهیدانودقاتل اودهیواد دخرابیدو دیوه مجرم په حیث ونه پیژني اوپردې سربیره یې دهیواد په راتلونکي سیاسي برخلیك کې هم بابدشریك کړي ، ددې خبرې معناداده چې نجیب اوخلق – پرچم ګوند چې په افغانستان کې څومره جنایت کړې په دې ټولو کې په حقه واوداسند باید له افغان مومن ولس نه هم واخلي اودااعتراف پرې وکړي چې هو ! نجیب اوخلق – پرچم چې په افغانستان کې څومره وینې وبهولي ، څومره کلي کورونه اوښارونه یې وران کړل دهیواد اقتصادي ، زراعتي ، تعلیمي او ... نظامونه یې تباه کړل پدې ټولوکې حق په جانب وځکه دهیواد دراتلونکې په باب له نجیب سره د جهادي تنظیمونو دمشرانو کېنستل اوبیا په عمومي انتخاباتو کې نجیب اودهغه ګوند ته برخه ورکول دهمداسي یوه اعتراف معنالري چې په داسې حال کې به بیا زموږ جهاد اوسرښندنې د" غوغاېراي هیڅ " سره برابري وي .

اوس دملګرو ملتو اداري ددې شرمیدلي او شرموونکې طرحي دتطبیق لپاره خپل استازي سیوان اودسویس دیهرنیو چارو وزیر ګلاوس یاکوبي په ماموریت رااستلي دهغوي ټوله هڅه اوهاند داده چې یوشمیرضعیف النفس اوضعیف العقیده عناصرپیداکړي اوپه دې یې راضي کړي چې له نجیب سره یوځاي کښني اودروغې جوړې په باب سره وغږیږي . سیوان په یې شرمانه توګه داهم وایي چې که یښهیال پدې پروسه کې نه راګډیږي ، نه دي راګډیږي دهغوي خپله خوښه ، خوددې پروسې دبریالیتوب په مخ کې دي خنډ کیږي هم نه اوبیا چې کله له یوه یې طرفانه ! دریغ نه غږیږي نووایي چې : داچې روسان اوکابل دنجیب دپاتې کیدو خبري کوي هم دمنلو وړنه ده او مجاهدین چې په انتخاباتوکې دنجیب اووطن ګوند دنه منلو خبري کوي هم .

ګویا ددې طرحي دطراحانو ټول فشارپدې ټکي دي چې جهاد څنګه بې اعتباره اونجیب اودهغه ګوند څنګه زموږ پرملت وتپي .

زموږجهادي رهبرانو اومجاهدولس ته دډېرې سیاسي ځیرکتیا دضرورت، صبراواستقامت شیبې دي داهغه شیبې دي چې استعمارغواړي زموږ دجهاد قانونیت اوموثریت له منځه یوسي اوبې ډزوډوزه مودښمن ته وسپاري . که نجیب اودهغه ګوند موږته دمنلو وړواي نوبیا دادومره قربانۍ دڅه لپاره اوکه زموږ جهاد په حقه وي نوبیا دنجیب اودهغه دګوند دمنلو په باب خوهسې تصورهم ستره ګناه ده . که څوك پدې سازش ورګډشودهغه اونجیب حیثیت به زموږ دمومن ولس په وړاندې یووي بیاکه زموږ ولس نجیب اودهغه ګوند ته دڅه ډول جزاورکولو پریکړه کوله داپریکړه به ددې ضعیف النفس عناصر ویه باب هم صادقه وي نوراځي چې ټول زموږدجهادپرضد ددې نړیوالي توطیې او سازش دناکامولو لپاره سره لاسونه یوکړو ، پرې نږدوچې دجهادثمرمو تالاترغې او داسلامي انقلاب په ناکامولو – مونږپوال استکبارښادشي .

دهندپه انتخاباتوکی دمسلمانانو ونده اورول

رحماني

تقریباً یوه میاشت مخکې په هندکې پارلماني انتخابات ترسره شول، دهندانتخابات دهغه هیواددزیات نفوس اوپې حده مختلفوقومونو ژبو اودینونو په نظرکې نیولو سره معمولا له تشنج اوجنجال نه ډك وي، اوهمیشه پکې په لسهاواوسلهاوخلك وژل کیږي . خو سږني انتخابات دنوروکلونو په پرتله ډېرله تشددنه ډك اوږونکي وو . په دې انتخاباتوکې پرسلګونو خلکو سربیره دهند پخواني صدراعظم اوداندراګانګریس ګوند مشرراجیوګاندي هم ووژل شو، او دپنجاب په ایالت کې چې سکان پکې دخپلواکي تحریك په لاره اچولې تردېرشوزیات یوازې کاندیدان ووژل شوي ، انتخابات هم دوې میاشتې ځنډیدلي دي، په نیول شوي کشمیرکې خوداانتخاباتو په هکله هیڅ پروګرام هم نه دي اعلان شوی،پدې سیمه کې چې تر ۸۰ فیصدو زیات مسلمانان پکې ژوند کوي، مسلمانانود خپلې آزادۍ لپاره بریالي تحریك په لاره اچولي اوپسله وال جهادیې پیل کړیدي .

دکشمیر نه پرته چې اکثریت اوسیدونکي یې مسلمانان دي په نورهندکې هم دیوسل اوپنځوس څخه زیاتو ملیونو پوري مسلمانان ژوندکوي چې دټول هند دنفوس له ۱۵ – ۲۰فیصدو پورې تشکیلوي دغومسلمانانو [illegible]

دبي ، جې پي متعصب هندویي ګوند دمسلمانانو پرخلاف ، سخت هندویي ذهنیتونه راوپاروله اودمسلمانانو دناکامۍ لپاره یې خپل ټول توان په کارواچوو.

ددې لپاره چې دهند په انتخاباتو کې دمسلمانانو رول ښه څرګند شي موږدیوه پاکستاني ژورنالست اولیکوال عطاء الرحمن یوه څېړنه چې دنواي وقت له خوا په یوه ترتیب شوي ګردي میزکې یې اظهارکړي، راتقلوو نوموړي ژورنالست دهند په تیرو، انتخاباتوکې هغه هیوادته سفرکړي اودهغه ملك حالات یې له نږدې لیدلي اوله مشهورو شخصیتونوسره یې لیده کاته کړیدي .

عطاء الرحمن وایي : دهند په اوسنیوانتخاباتوکې دریو لویوګوندونو برخه درلوده ، کانګریس آي ، دوي پي سنګ جنتادل اومتعصب هندویي ګوند، بي ، جې ، پي دې دري واړو په خپل وارزیاراېسته چې دمسلمانانو رایې ترلاسه کړي، په همدې خاطردې واړو ددې رایو دجلبولو لپاره مختلفي پالیسي اوتګلارې غوره کړې دي .

دکانګریس ګوند تقریبا (۷۰) تنه مسلمانان خپل کاندیدان ټاکلي وو اوپه [illegible]

بې شي اوچې وغواړي نوماني ورکولاي شي ، ولي له دې سره سره یوه ډله پرلیسې دکانګریس مرسته کوي، دجمعیت علماي هند مشرمولانا اسد مدني په هرحالت کې دکانګریس مرسته کوي، که څه هم دمسلمانانواوهندوانواځ و ... اوږدي روانې وي، تقریبا په سلوکې لس مسلمانان کانګریس ته رایه ورکوي .

داځل مولانا ابوالحسن ندوي چې ... مسلمانانو کې ډېراحترام ورشخصیت دي ولي سیاسي ذهن نلري له غلام نبي ازاسره چې دکانګریس منشي دې اوځینو آزاد خیالوکانګریسیانو سره په بمبي کې ملاقات وکړ او دکانګریس په ګټه یې څه خبرې ترې واخستې اوداخبري دکانګریس په یوه خبرونه کې چې (قومي آواز) نومیږي خبرې شوي، پدې شکل چې مولاناصاحب دکانګریس حمایت اعلان کړي که څه هم مولانا صاحب وروسته پدې هکله پوره وضاحت اوڅرګند ونې وکړې اوخبروني خبري یې ردې کړي، ولي هغه وخت غشي له لیندۍ وتلي و، پدې حساب [illegible]

اصلي وجه دداه چې هغه دبابري جومات په خاطر صدارت هم له لاسه ورکړ . دغه کاریه مسلمانانو ژوره اغیزه وکړه ، دوي ، پي.سنګ څخه دمسلمانانو دیلوي دوهمه وجه داده چې هغه دمنډل کمیسیون غوښتني دي چې مسلمانانو اکثریت خلکوته دهغو حقوق ورکوي .

که څه هم دانظر نشته چې دوي، پي سنګ په دوران کې ډېرمسلمانان دهندوانو له خوا ووژل شول اودبهاریته جنتاپارټۍ دوي پي سنګ ملګري وه .

وي پي سنګ ۳۵ تنهمسلمانان دخپلو کاندیدانویه نامه معرفي کړي وو، په ځانګړي توګه په هغو حوزوکې چې فکرکیده مسلمانان راي ورکوونکي اکثریت لري .

دریم سترګوند متعصب هندویي جنتاپارټۍ ده چې دهندويي ملت پرستۍ په اساس رامنځته شوي اومذهبي اوریې په هندکې بل کړیدي .

داهغه ګوندي چې مسلمانان سخت نفرت اوکرکه تري لري .

[illegible]

خومسلمانانو داپریکړه کړي وه ، چې په سکولر ګوندونو، کانګریس اوجنتادل کې چې دهره یوه کاندي قوي وي دهماغو ملاتړوکړي ترڅو بې ، جې ، پي والله ناکام شي ، په دې پریکړه کې دشاهي جومات امام علي میا، جماعت اسلامي اومشهورمسلمان مشر سیدشهاب الدین او نورشامل و و .

په نوروځایوکې دهلي دجامع جومات امام سید عبدالله بخاري داحترام ورشخصیت دي اودهغه رایې ته داولیت حق ورکول کیږي ، هغه په وازکومي دوي، پي ، سنګ ملاتړاعلان کړي اوویلي یې دي چې جنتادل ته رایې ورکړي .

دمسلمانانو دریمه لویه پارټۍ په بهارکې امارت شریعته ده چې مرحوم صفت الله رحماني یې مشرو، اوس یې زوي دهغه ځاي نیولي .

دغه ګوند په بهارکې زیات اثرلري، دې هم دوي، پي ، سنګ ملاتړوکړ .

څلورم ګوند په حیدرآباد اواندراپردیش کې هغه مجلس اتحادالمسلمین دي چې سلطان صلاح الدین اویسي یې مشردي ، دغه ګوند ته په پارلمان کې یوه څوکې [illegible]

۳ مخ

په افغانستان کې یوه دوامداره سوله هغه وخت راتلای شي . . .

له کست نه پلې کونکي : عبدالهادي "نيازي"

دشهادت درنو لوستونکو دادي دحزب اسلامي افغانستان مجاهد امير وروررحكمتيار دهغه وينا پوره متن تاسي ته وړاندي كوو، چي دروان كال دچنگاښ دمياشتي په څوار لسمه نيټه يې دنصرت مينې په جامع جومات كي دجمعي دلمانځه نه دمخه يې واوروله ، وروررحكمتيار له حمداوثنا اودقرآن عظيم الشان دځوآيتونو ترتلاوت وروسته وويل :

وروڼو! لكه څنگه چي اسلام موږته دژوندپه نوروبرخوكي هدايات اولارښودنه كوي، په فردي اواجتماعي ژوند كي ، په مختلفوقضاياووكي، دژوند په مختلفوبرخو اوابعادوكي، دجنگ اودسولي په باب يې هم موږته خاصي اوواضحي لارښودني كړي لكه چي دجنگ په دوران كي موږ ددغوروښانواوواضحو احكامو په مطابعت مكلف يو، بايد هغه مراعت كړو اودعدول اوانحراف نه ځان وساتو همدارازدروغي جوړي اودسولي په باره كي هم موږه ته مشخص هدايت كوي . مسلمان په كله له دښمن سره سوله كوي اويه كومو شرايطوكي . آياالسلام ددي اجازت وركوي ، چي دښمن ته دروغي جوړي او دسولي لاس اوږدكړي اوهغه ته دسولي او روغي جوړي طرف ته بلنه وركړي؟ آيامسلمان ته ددي اجازه شته، چي هغه ددښمن شرايطوته تسليم شي اودهغه برتري اولويي ومني اودهغه په شرايطوله هغه سره سوله وكړي ؟ كله به سوله كيږي په دي هكله هم اسلام موږ ته واضح اوڅرگند هدايات اولارښودني كړي، كوم مبارك آيت چي تلاوت شويه هغه كي الله (ج) فرمائي : "تاسي سستيږي مه ، دسولي طرف ته بلنه مه وركوي. تاسولوړ اوعالي ياست اوچت ياست اوالله (ج) له تاسي سره دي. هيڅ كله به ستاسي عملونه ضايع نكړي" كه دغه مبارك آيت ته تاسوتوجه وكړي دسولي او روغي جوړي څومهموټكوته اشاره كوي، لمړي داچي الله (ج) امركوي چي ته به دښمن دروغي جوړي طرف ته نه رابلي، ته به دسولي پيشكش نه كوي، اودښمن ته به دابلنه نه وركوي، چي ستااودهغه ترمينځ روغه جوړه وشي، سستيږي مه ، احساس دضعف اوناتواني مه كوي، اودروغي جوړي اوسولي طرف ته بلنه مه وركوي .

يعني مباداسولي او روغي جوړي ستاسي دضعف نه نشئت نه وي كړي احساس دضعف ، احساس دناتواني اوياس اوناامېدي اودخپلي كاميابي په نسبت شك كول، اوددي په وجه دښمن ته دروغي جوړي لاس اوږدول مباداددسولي ددعوت احساس دضعف اودوهم له احساس نه نه وي راپورته شوي، الله (ج) امركوي تاسي به دجهاد په دوران كي نه سستيږي اوله څېره دسستي اووهم دياس اوناامېدي نه راپيداكيږي ، څوك چي دخپلي كاميابي په نسبت شكمن شي بس دهغه شور ، شوق او ځورختم شي، ددي پرځاي په هغه كي وهم سستي اوكسالت پيداشي ، ددي معني داده ، چي تاسي به هيڅ كله نه مايوس كيږي هميشه به وااوه اومطمئن اوسي مباداپه تاسوكي وهم ،سستي اوكسالت راپيداشي اواحساس دضعف اوناتواني وكړي دښمن ترڅانه قوي اونېرومندوگڼي، اوبيا مباداتاسو ددغه وهم ، ناامېدي دياس په وجه دښمن ته دروغي جوړي لاس اوږد كړي ، دسولي اوروغي جوړي له پاره په هم بلنه نه وركوي دالمړي څېره ده مسلمان له دي نه منع شوي چي دضعف اووهم داحساس په وجه دښمن ته دروغي جوړي اودسولي لاس اوږد كړي داالله (ج) امردي "تاسو لوړياست تا سوددي نه ډېر اوچت ياستي چي دښمن ته دروغي جوړي اودسازش لاس اوږدكړي ، داستاسي له شان نه ډېره لري خبره ده ، چي ددښمن سره سازش وكړي اوهغه ته دروغي جوړي اودسولي لاس اوږدكړي اوالله له تاسي سره دي .

دهغه مرسته اوتائيد ستاسو په حال شامل دي كه داټوله دنيا هم تاسوبېوازي پرېږدي ، خداي (ج) تاسوته كفايت كوي الله (ج) تاسوسره دي مبادا په دي وجه دښمن سره روغه جوړه اوسازش ونكړي، چي ځان بېوازي گڼي ، ټول ستاسي په خلاف متحد شوي ، مشتركه جبهه ئي جوړه كړي، اوتاسي احساس دتنهايي كوي، ددي بېوازي توب داحساس په وجه دښمن ته دروغي جوړي اوسازش لاس اوږدنكړي الله (ج) تاسوسره دي .

اوستاسي عملونه به هيڅ كله ضايع نكړي" تاسي مطمئن اوسيږي چي دخپلو عملونو پاداش اوبدله اواجربه په كامله توگه په دنيا اوآخرت كي ترلاسه كړو، هرعمل دوه اجره اوبدلي لري ، دنيوي پاداش اواخروي اجر، الله (ج) دمومن بنده دعملونو دپاداش ذمه وارددي دهغه دعملونو پاداش به هيڅ كله په دنيا اوآخرت كي ضايع نه شي ، داتصوراوگمان په تاسو كي راپيدا نشي چي شايد داقرباني موعبث ولاړه شي ، قرباني موهدرلاړه شي .

جهادموبې نتيجي پاته شي . داپونيم مليون شهيدان مووركړي دي دومره ويني

> هغه کسان چي په پټه له نجیب سره کنبیناستلي او تفاهم ته رسیدلي ، کابل او سویس ته یې هیئتونه هم لیږلي هغه هم دافغان ولس په وړاندي ددي جرئت نه شي کولای چي له نجیب سره په خبرو اترو اعتراف وکړي .

توي شوي، دپارلس كاله مبارزه ، ددي جهاد دستونزو اوكړاوونو گالل، مبادا داهدر لاړنه شي ، دااحساس تاسي دي ته اړنكړي چي دښمن ته دروغي جوړي لاس اوږدكړي ، له دي ته به ډاډه اومطمئن وي ، چي الله (ج) ستاسي قرباني نه ضايع كوي، په دي مبارك آيت كي دروغي جوړي په باب داڅومهمي خبري شوي، احساس دضعف اوناتواني به نه كوي، اوددغه احساس دضعف اوناتواني په وجه به دښمن ته دروغي جوړي اوسولي بلنه نه وركوي اوبايد ځان له دوي نه ډېر لوړ اواوچت وگڼي ، چي دښمن سره سازش وكړي اودښمن ته دروغي جوړي لاس اوږدكړي . احساس دتنهايي به نه كوي، الله (ج) دتاسوسره دي، له دي نه هم ډاډه اومطمئن اوسي، چي ستاسو قرباني نه ضايع كوي عاقبت داموروداالله (ج) په اختياركي دي اويه عملونو پاداش، بدله اواجرهغه مرتب كوي .

دهيڅ چاعمل خداي (ج) نه ضايع كوي انسان بايه دي خاطرددښمن سره سازش كوي چي بس دښمن ترځانه قوي گڼي اواحساس دناتواني اوضعف كوي، مجبورشي دهغه شرايط ومني اوهغه ته غاړه كيږدي ، اوله هغه سره سازش وكړي، بايه دي خاطرچي بس هغه ترځانه لوړاواوچت وگڼي ، اودهغه شرايط تسليموي بس هغه ته تسليميږي ، دهغه شرايطوته غاړه ايږدي ، دهغه سره روغه جوړه كوي اويااحساس دتنهائي كوي ټول دهغه په خلاف متحدشوي ، مشتركه

جبهه ئي جوړه كړي هغه ځان يوازي گڼي له دي يوازي توب نه دځان دايستلو خاطرځي ، دښمن ته لاس وركوي اوروغه جوړه ورسره كوي اويابه دي خاطرچي گمان كوي شايد دهغه دامبارزه اوجهاد ضايع شي اوقرباني ئي هدرولاړه شي،

> ● افغان ولس ته دي ددي حق وركړاي شي چي له بهرني فشار اومداخلي پرته خپل سرنوشت وټاکي .

دي خاطر ددښمن سره سازش كوي ، دي مبارك آيت كي مسلمان ته وويل شو چي ته به له دي لحاظه ډېره اوتشوتي نلري ، چي ستاعملونه به ضايع شي يوازي ني، الله (ج) به تاتنهاپرېږدي بلكي بايد ډاډه اومطمئن اوسي چي الله (ج) له تاسره دي ، هيڅ كله ستاعملونه ضايع نكړي ستادعمل دپاداش دتحقيق ذمه واردي اوته بايد ځان له دي نه ډېراوچت وگڼي چي دښمن سرټيټ كړي اودهغه شرايط ومني اودهغه پرشرايطو ورسره روغه جوړه اوسازش وكړي .

قرآن عظيم الشان موږ ته صريحاً وايي چي كله په دښمن كي دمقاومت اودجنگ توان ختم شو اوستاقوت دهغه زړه كي وېره اوخوف راپيدا كړ ستابرلاسي يې ومنله ، اوهغه ځان مجبوروگڼلو، چي تاسي ته دروغي جوړي پيشنهاد وكړي هغه متمايل شوي بلكي پروازي يې پريښي اوستاشرايطو ته يې سرټيټ كړي، ستاقوت دهغه په زړه كي وېره اوخوف پيداكړي ، نوريه دښمن كي دمقابلي اودمقاومت توان اوځواك ختم شوي، كه په دغه مرحله كي هغه تاسره روغه جوړه كوي، ستاپه شرايطو بيا مانع نه لري، كه هغه سولي ته راټيټ او متمايل شي، بلند پروازي ني پريښي نوته هم هغه ته متمايل شه اويه الله توكل وكړه له دي نه تشويش مه لره چي هغه به له تاسره غدر اوخيانت وكړي، بس پرالله (ج) بايد ستااعتماد اوتوكل وي، دامبارك ايت پس له هغه راځي چي مسلمانانو ته هدايت كيږي چي ددښمن په خلاف چي څومره توانيدلي شي بايد تيارآسوني اوقوت او وسايل برابركړي، ځان مجهز كړي، قوت تعبيه كړي، اومره قوت چي ددي په ذريعه ددښمن په زړونوكي وېره اوخوف پيداكړي .

هغه دښمن چي تاسوبې پېژني هم هم په دي سره ووېروي هغه چي تراوسه پوري نه دي ځرگند شوي ددښمني اراده لري خومترصد دي مناسب فرصت ته منتظردي ، دادښمن هم په دي سره ووېروي. تاسي دوسايلو اودقوت دي مرحلي ته

ورسيدلي، ددښمن په زړه كي له تاسوته وېره اوخوف پيداشوي اوهغه نوره خپله

بلندپروازي پريښي او اوس روغي جوړي ته ځان مجبورگڼي ستاشرايط مني، ستابرلاسي ته تسليميږي ، بيايه دي صورت كي مانع نه لري ، كه هغه روغي جوړي ته متمايل شوته هم ورمتمايل شه اويه الله (ج) توكل وكړه دادواړه آيتونه چي تاسو سره مقايسه كړي داتنيجه په ترې اخلي چي مسلمان له دي نه منع شوي چي دښمن ته دي دروغي جوړي پيشنهادوكړي يادښمن شرايطو ته دي تسليم شي ، دهغه په شرايطو دي ددښمن سره روغه جوړه وكړي، اوكه هغه ستاشرايط تسليموي ، ستابرلاسي مني، اوهغه ځان دي ته مجبورگڼي ، چي ستاشرايط ومني اوستا په شرايطو له تاسره روغه جوړه وكړي ، بيا مانع نه لري .

الله (ج) ددغه مبارك آيت نه وروسته چي ماځكي ترجمه كړ فرمايي چي : خبره داده بلكه نه ده چي ددنيا ژوند لوبي اولعب دي لكه دماشومانو لوبي اوبيهوده شيان، دآخرت په بدله كي، دجنت په مقايسه دنيا اودهغه مصروفيتونه داسي وگڼه لكه دماشومانولوبي ، خبره داده بلكه نه ده چي د دنيا ژوندلوبي دي اوخوشي اوبي هوده شيان دي

مسلمان له دي تاخيي نه مطمئن كوي كه په تاباندي ډېرسخت حالت هم راغلي دغسي چي نوردي ژوند اوحيات په خطركي دي، ټول ستاپه خلاف متحدشوي ، مشتركه جبهه يې جوړه كړي، له تاسره به څه وكړي، له دي نه ماسوئ چي ستا ژوند ختم كړي ددي ژوند په بدله كي الله (ج) دهغسي ژوند بنداوبست اوانتظام تاته كړي چي دادهغه په مقايسه كي لكه دماشومانو لوبي داسي دي لكه بوبي هوده خوشي اوعبث شي دي .

كه موايمان راوړاوداايمان لاره موغوره كړه داايمان په سنگر كي استواراوثابت پاتي شوي ، اوله دښمن سره موله سازش نه ځان وساته ، اوتقوي موغوره كړه الله (ج) به ستاسو دعملونو پاداش اواجردركوي اوستاسومالونه هم درنه نه غواړي، داسي گمان مه كوي چي په دي ترتيب الله (ج) ستاسو ټول مالونه له تاسوڅخه نه غواړي برعكس تاسي ته دزيات رزق اوروزي وعده دركوي او الله (ج) دخپلي لاري دمجاهد درزق اودروزي ذمه واردي .

وروڼو ! داخداي (ج) وعده ده په دي كي نه بايد شك وكړوچي چاخداي (ج) ته مخه كړه اويه الله (ج) يې توكل اواعتماد وكړ دهغه په لاره كي يې دمخلصانه اوصادقانه جهاد ملاوتړله ، الله (ج) به دځمكي اودآسمانونو دبركت دروازي دهغوي په مخ خلاصوي، دهغه په رزق اوروزي كي به خداي (ج) بركت اچوي، له دغسي لاري به ورته رزق وركوي چي په خيال او گمان كي يې نه گرځي، اوچاچي خداي (ج) ته شاكړه داايمان اودجهاد لاره يې پريښوده ، پس الله (ج) به له هغه نه درزق اودروزي بركت واخلي ، له فقر، ذلت اومسكنت سره به يې مخامخ كړي، دادخداي (ج) سنت دي اودهغه وعده ده گمان مه كوي چي تاسي به داايمان په دريغ كي دښنگارپه وجه شايد له فقراومسكنت سره مخامخ شي اودرزق اودروزي دروازي به ستاسي په مخ وتړلي شي، نه درزق اودروزي مفاتح له الله (ج) سره دي اوهغه درزق اودروزي واكمن او ذمه واردي، داسي نه ده چي الله (ج) يس دتاسونه دستاسو دمالونو مطالبه هم كوي له هرڅه نه به محروم كيږي هرڅه به ستاسو په دي لاره كي وقف كيږي ، برعكس الله (ج)

تاسوته مزيد رزق اوروزي دركوي . كه الله (ج) له ستاسونه دستاسو دمال مطالبه وكړي اوډېر ټينگار وكړي، ټول مال مودرنه وغواړي نوحتماً به ستاسودزړونو كينه اوحسد راپرېښودي ددي انفاق په نسبت چي تاسو ته كومه كركه ده اوله دي نه تفرت لري هغه به بېرته اوڅرگند شي ، بس الله (ج) محدودشي له تاسونه غواړي زيات نه غواړي دومره چي ستاسو له وسه پوره وي، ستاسوپه توان كي وي، كه ډېروغواړي سره له دي چي هغه دستاسي دهرڅه مالك دي، څه چي دستاسو په اختياركي دي داټول دخداي (ج) امانتونه دي، كه ډېروغواړي ددي په نتيجه كي به ستاسو هغه دزړونو حسد اوكركه راڅرگنده شي .

تاسي اي هغه جماعته ولي اوتولگيه چي بلل كيږي ددي لپاره چي دالله (ج) په لاره كي قرباني وركړي خپل ځان اومال وقف كړي اوس داخطاب تاسوته متوجه دي ، دالله (ج) دكلمي دلوړولومنصب تاسوته سپارل شوي اوهغه اوس له تاسونه ددي مطالبه كيږي ، چي دخداي (ج) په لپاره كي قرباني وركړي له تاسونه ځيني هغه دي چي بخل كوي دي ته نه دي تيارچي خپل مال اوځان ، سراووبني دخداي (ج) په لاركي وقف كړي، قرباني وركړي ، بخل كوي . چاچي بخل وكړ دقرباني ته ني ډوه وكړه نودخپل ځان دمصلحت اودخيرنه يي بخل كړي ، خپل ځان بي دبېگټې اوخيرنه محروم كړي، ددي بخل نتايج په خپله ده ته راگرځي، دخپل ځان پرشيگټې ئي بخل كړي، دخداي (ج) په لاره كي قرباني دهغه په خېرده، اوالله غني اوبي نيازه دي دهرڅه مالك دي . هيڅاته اړاومحتاج نه دي، غنا دهغه ذاتي صفت دي اوتاسي فقراومساكين ياست ، كه هرڅومره شتمني ولري بياهم خداي (ج) ته اړاومحتاج ياست تاسوفقيرياست الله (ج) ستاسو قرباني ته اړنه دي، بلكي تاسودخداي (ج) فضل اوعنايت اونصرت ته محتاج

> ● له نجیب سره نه گډ حکومت جوړیداي شي ،نه له هغه سره خبري اتري کیداي شي ،
> اونه دیو حزب په حیث په انتخاباتو کي برخه اخستلاي شي .

اوايي ياست . الله ستاسو قرباني اوشهادتونو ته اړنه دي بلكه تاسو الله (ج) ته فقيرياست خداي (ج) غني او بې نيازه دي ، كه مواعراض وكړ، مخ مواړاوه قرباني ته موشاه كړه، له جهادنه مولاس واخيست ، په سراومال مودخداي (ج) په لاره كي له جهادنه اجتناب وكړ، ستاسو په عوض به الله (ج) بل قوم راولي، دغسي قوم چي هغه بايددخداي (ج) په لاره كي قرباني ته تياروي ، هغه بخيل نه وي، دخپل سراومال په قيمت دخداي (ج) په لاره كي جهاد ته ملاتړي، الله (ج) به دغسي بوقوم راولي، ستاسو په عوض به داجليل منصب دالله (ج) دكلمي دلوړولو اودخداي (ج) دين ته دبلني اوددعوت كاريه الله (ج) له پي ټولگي اودبلي ولي ته واخلي، بياېه هغوي ستاسو په شان بخيل ، جبون اوډار نه وي، بلكه هغه به دخداي (ج) په لاره كي جهاد كوي، اوقرباني ته به تياروي .

وروڼو ! ږموږ جهادهم اوس هغه مرحلي ته رسيدلي، چي دهغه دسرنوشت دټاكلو په باب ئي دسولي او روغي جوړي خبري كيږي دملل متحد له خوا دافغانستان دمسئلي دحل ترنامه لاندي طرح وړاندي شوي ، چي دغني په هكله مايه تېرو جلسو كي تفصيلي بحث كړي، زه په هغه اكتفاكوم، په اختصارسره دومره وايم چي ددي طرحي هدف دادي چي ددري ډلوترمينځ مذاكرات اوخبري اتري پيل شي، مجاهدين ، كمونست حزب (حاكم رژيم) اوسابقه واكداران ، دسابقه فاسدونظامونو واكداران يوطرف ته ، دكابل حاكم رژيم بلي خوانه اومجاهدين

بلي خواته ددغو درو اړخونو ترمينځ مذاكرات اوخبري اتري، دادملل متحد دطرحي بنياداواساس جوړوي، موږدملل متحد طرح ردكړي په همدي ارتباط دسويس دخارجه چارودوهم وزير پاكستان ته راغلي، پس له هغه چي دكابل دوره يې كړي اوهلته هم هغه درژيم واكدارانو سره دافغانستان دمسئلي په هكله تفاهم كړي، له ماسره ئي هم تيره ورځ تفصيلي جلسه وه .

هغوي همدايوښتنه كوله، چي داځنگه يوازي تاسوددي طرحي مخالفت كوي، ماورېل تاسي اشتباه كوي، چي گمان كوي يوازي موږددي طرحي مخالفت كوو، حقيقت دادي چي ټول افغان ولس اوټول مجاهدين ددي طرحي مخالف دي، زه به له

تاسونه تپوس وكرم لارښي ، تاسو چي له هرچانه پوښتنه كوي ور ته ووايي چي آيادنجيب سره خبرواترونه تياياست ، حتي هغه كسان هم چي په پټه له نجيب سره كښيناستلي اوتفاهم ته رسيدلي، توافقات ئي كړي كابل ته يې هيئتونه لېږلي، ستاسو په ملك اويه بل ملك كي ليدني كتني كړي، هغه هم دافغان ولس په وړاندي ددي جرئت نشي كولي چي په دي اعتراف وكړي،چي له نجيب سره خبرواترونه تياردي، گويا چي هغوي اصلاً دنجيب سره نه خبري اتري كړي اونه دي ته تياردي ، هغه وويل هودنجيب سره هيڅ څوك خبرواترونه تيارنه دي نو ماوويل تاسي وښيي چي داطرح . چا منلي ، دطرحي اصلي بند خوهمدادي چي بايد بين الافغاني ديالوگ اوخبري اتري پيل شي، دبين الافغاني ديالوگ خبرو اترونه ستاسي مقصد څه دي، كه نجيب له دي نه نفي كړي اوله هغه سره خبري اتري ددي طرحي هدف نه وي ،بيا سمه ده ، كه نه

> حقیقت دادي چي نه یوازي موږ، بلکي ټول افغان ولس او ټول مجاهدین د ملگر و ملتو ددي طرح مخالف دي .

وي ټول افغان ولس اومجاهدين ددي مخالف دي، هيڅ كله دي ته نه تياريږي چي دنجيب سره دمذاكري لپاره كښيني ماوويل بايد څرگنده په نظر كي ولري چي هغه له نجيب سره خبري اتري مستحيل دي ، انتلافي حكومت نشي كيدي، دنجيب په موجوديت كي اوربند نشي راتلي او داسي نشي كيدلاي چي دافغان ولس دخوښي نه پرته دي په بهر كي حكومتونه جوړشي، اويه افغان ولس دي تحميل شي او افغانان دي هغه ومني، هغه داهم وويل چي كه يوموقت حكومت دنجيب په ځاي راشي ستاسو نظرڅه دي ځيني چي په جهادكي مطرح هم دي اوموثر

رول هم لري، گويا هغوي دي ته تياردي ، چي مخلوع پادشاه دموقت حكومت په

راس كي ومني،ماوويل چي زه به ډېر خوشحاله شم چي تاسومانه هغه موثرجهت راوښيي چي هغه په جهاد كي هم مطرح وي اويه ملت كي هم نفوذ ولري ، اودظاهرشاه دراتلوطرفداروي، زه به ډېر خوشحاله شم زه خوداسي ،موثر جهت په افغانستان كي نه پيژنم ، مدوويل تاسي ولارشي په سنگرونو كي له مجاهدينو تپوس وكړي چي مجاهدين دظاهرشاه اودنجيب ترمينځ په څه فرق قايل دي، يعني دومره كركه چي ږموږ مجاهدين دظاهرشاه ته لري شايد دنجيب ته يې ونلري ، دظاهرشاه راتگ محال دي، هغه ته دراتلو ځاي په افغانستان كي نه دي پاتي ، هغه پوښتنه كوله ، چي آيا تاسوهغو افغانانوته چي اروپا اوامريكاته تللي دي هغوي ته هيڅ حق نه وركوي ماوويل اصلاً داخبره معكوس ده،موږ نه دي ويلي چي هغوي محاكمه كوو، اعداموو ، هغوي افغانستان ته بېرته دراتلوحق نلري، كه واځي زندانونو ته به بي ليږو اوهغه به محاكمه كوو ، موږ خوداسي نه دي ويلي ، موږ داوايو چي هغوي ته امتيازات نه وركوو، تاسي خوددي مطالبه كوي، چي حكومت هغوي ته وسپاري، هغوي دي موقت حكومت هم جوړكړي، موږددي نه تيارنه يو، هغوي دافغانانو په حيث راتلي شي، له مساوي حقوقو سره راتلي شي، په افغانستان كي ژوند كولاي شي، موږ داوايوچي بايد دافغانانو لپاره حكومت په بهركي په اروپا اوامريكا كي جوړنشي له بهرنه دپرديو دخوښي حكومتونه په افغان ولس باندي تحميل نشي دنجيب حكومت دي ختم شي افغان ولس ته دي ددي موقع وركړي شي چي له بهرني فشاراومداخلي نه پرته خپل سرنوشت وټاكي، دخپلي خوښي حكومت جوړكړي، په دي ترتيب دافغانستان مسئله حل كيدلاي شي، موږ ددي مطالبه كوو، موږ وويل كه تاسي پريښيادافغانستان دمسئلي حل غواړي نودا اوس په دي شپږ او ورځوكي دگړ شميرنوروملكونو دغسي دي ته ورته مسائل حل اوفصل شول راځي له دغو تجربوته داپوټه افغانستان كي عملي كړو، ددغو تجربو نه استفاده وكړو،ننگله ديش كي حسين محمد ارشاددبنگله ديش سابقه رئيس جمهوركله چي دملت له مخالفت سره اودحزبونوله مخالفتونو سره مخامخ شو اعلان يي وكړچي دامخالفي دلي دي

په بوچاباندي پخپلو مينځونوكي توافق وكړي، زه اقتدارهغه ته پرېږدم ، هغوي سابقه قاضي القضات باندي پخپل مينځونو كي توافق وكړ، دبنگله ديش رئيس جمهور استعفا وكړه قدرت موقتاً له هغه انتقال شو، انتخابات ترسره شول اوبيا قدرت منتخب حكومت ته وسپارل شو، ماويلي نجيب دي همدغسي وكړي دپرديو ټانكونو په زوريه افغان ولس تحميل شوي حكومت دي ختم شي، دهغه ځاي دي يوموقت حكومت ونيسي ، دغسي يوموقت حكومت چي مجاهدينو ته دمنلو وروي ، بيادي په افغانستان كي انتخابات ترسره شي، اوقدرت دي منتخب حكومت ته انتقال شي، خودهغه اصرارداؤ چي ځيني دلي وايي چي انتخابات په افغانستان كي عملي نه دي، اوترټولو غوره اومعقوله طريقه په افغانستان كي دلويي جرگي جوړول دي ماويلي لويه جرگه خودافغانستان ته كوم عنعنوي سيستم دي اونه لويه جرگه ديوواقعيت په حيث

وجودلري، لويه جرگه اصلاً دحكومتونو دلاس آله،يوه حربه وه چي كله يي غوښتل دخپل غيرقانوني سلطي ته قانوني بڼه وركړي دخپلي خوښي كسان يي راغونډ كړي، هغې ته يي دلويي جرگي نوم وركړي اوخپل غيرقانوني حكومت ته يي قانوني صبغه وركړي. تاسي ولي دلويي جرگي خبره كوي، ولي دانتخاباتو خبره نه كوي، ستاسي هدف دادي چي په بهركي دي دبهرنيو ځواكونو دخوښي يوموقت حكومت جوړشي بيادي دهمدغه حكومت په خوښه لويه جرگه ترتيب شي ، بيا دي موقت حكومت ته دداسي حكومت رنگ وركړي شي، دادي په دايي حكومت بدل شي ، ستاسي هدف ماته دغسي بريښي ، ددي طرحي معني همدغه ده تاسي غواړي دموقت حكومت ترنامه لاندي بوداييي حكومت په افغان ولس له بهرنه تحميل كړي پرته له دي چي دملت رايي ته رجوع وشي، په دي خاطر تاسي دانتخاباتو مخالفت كوي اودلويي جرگي پيشنهاد كوي موږ وايو كه واقعاً ځواك سوله غواړي نو افغانان ترټولونه زيات سولي ته تږي دي څكه دجنگ په نتيجه كي هغوي مري ، دجنگ په نتيجه كي دهغوي كورونه ورانيږي ، دجنگ داوږه لمبوكي دوي سوځي، څوك به ترافغانانو نه زيات دجنگ خاتمي اودسولي اقامي ته تږي او منتظروي ، ترټولو زيات چي څوك سوله غواړي هغه موږيو، خوموږ يوواقعي عادلانه اوپايه داره اودوامداره سوله غواړو اودوام داره سوله هلته راتلي

شي چي دپرديو ټانكو په زور تحميل شوي دامزدور رژيم ختم شي دهغه ځاي يوموقت حكومت ونيسي بيادي دملت رائي ته مراجعه وشي دملت په خوښه يومنتخب حكومت اومنتخب پارلمان جوړشي په دي ترتيب دافغانستان مسئله حل كيدلاي شي، تركومه ځايه پوري چي زما انتباه ده هغه زموږ دمجلس نه ډېرقانع اوخوشحاله وتلي اوځه چي هغه سره وو هغه يې پري ابيني دي، هغه نظريات يي ترك كړي دي، اويه دي پوه شوي چي دمجاهدينو موقف عادلانه اومعقول دي،زموږ موقف همدغه دي .

وروڼو ! له نجيب سره روغه جوړه اوسازش نشي كيداي، نجيب په خامخا اوبلاقيداوشرطه قدرت پرېږدي له هغه سره نه مختلط حكومت جوړيداي شي نه له هغه سره مذاكرات كيداي شي اونه هغه په آينده كي ديوحزب په حيث په انتخاباتوكي برخه اخيستلي شي ، دهغه اقتدار بايد بلاقيداوشرطه ختم شي، دهغه ځاي بايد يوموقت حكومت ونيسي ، بيادي دملت رايي ته مراجعه وشي اوانتخابات دي ترسره شي، زه وروڼو ته ددي خبري هم اطمينان وركوم چي له دي نه پرته بل حل نشي كيداي ، بلكه هره لارچي خلك غوره كړي، غيرعملي ده لوي طاقتونه هم كه دهغه ترشاولاړوي، اووغواړي بوغيرعملي طرحه پرافغانانو تحميل كړي ددي امكان نشته، بالاخره به په همدي توافق كيږي،نجيب به څي ځاي به بي يوموقت حكومت نيسي ، اودملت په خوښه به يواسلامي حكومت جوړيږي ، په دي ترتيب به جنگ پاي ته رسيږي او سوله به په افغانستان كي قايميږي ، ددي هلوځلو اوتلاشونو نه بايد ويره اوتشويش ونه لرو اومسئله به انشاء الله ستاسو په خوښه اودافغان ولس دخوښي مطابق حل اوفصل كيږي ، مشروط په دي چي موږ خپل صبراواستقامت له لاسه ورنكړو احساس دضعف اوناتواني ونكړو، ځان يوازي ونه گڼو،الله (ج) ځان ته كافي وگڼو،په دي مو باوراو ايمان وي، چي خداي (ج) له موږسره دي، اوزموږ قرباني به هغه نه ضايع كوي، كه له موږسره همدا عزم اواراده وه له سازش نه موځان وساته ، صبراواستقامت مودرلود ، مزيدو قربانيو ته تيارو ، ځان مواپواځي نه گڼلو، احساس دضعف اوناتواني مونه كولو، او له دي هدف څخه نه ترشاكيدلو چي په آزادافغانستان كي بايد دمجاهدينو په لاس واقعي اسلامي حكومت قائم شي،بايد مطمئن وي چي وروستي فتحه دمجاهدينو ده الله (ج) به د مجاهدينو په لاس په افغانستان كي اسلامي حكومت قايموي، اقول قولي هذا استغفرالله لي ولكم والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

دهند په . . .

سنگ ته اوچاهم دچندراشيكردپلوي اعلي وزير پلوي وكړه اوچاهم دهېپټ ذات بهوجن گوند ته رايه واچوله . پدي حساب په پارلمان كي بي هم كرڅوكي ترلاسه كړي اوبي ، جي پي گوند برپالي شو .

په اياالتي اسامبله كي هم مسلمانانو ډېري لږي څوكي وگټلي اويهاريته جنتاپارټۍ اكثريت ترلاسه اوحكومت بي جوړكړ.له بده شامته په اعظم گړ، رام پور، كانپوراوسهارنپوركي چي مسلمانانو اكثريت درلود اوتل بي له دي ځاي څخه نمايندگان كاميابيدل ، هري پارټۍ له مسلمانانو څخه خپل كانديد ټاكلي و، چي واهم دغه پلان له مخي و، په نتيجه كي دمسلمانانو رايي وويشل شوي اوبي، جي بي واله كامياب شو .

ديورتيبو توضيحاتوڅخه معلوميږي چي په هندكي مسلمانان له څومره بدبختيو سره مخامخ اوتل [illegible] روان دي، كه هلته مسلمانان ځانونه منظم كړي. ټول په يوه آوازدهندي مسلمانانو منظم اومتحد گوند جوړكړي نوكيداي شي چي ديوقوي ځواك په حيث راوړاندي اويه پارلمان كي زياتي څوكي ترلاسه كړي داسي چي وكولاي شي دهند ي مسلمانانو لپاره دهغوي حقوق وغواړي اوهيلي بي منعكس كړي، اوكنه نودپرديو په حمايه كي بي خبرنشته ، هيڅاهم تراوسه دمسلمانانو لپاره كارنه دي كړي، كله بي چي واړبرابرشوي نويه مسلمانانو بي گوزاركړيدي . مسلمانان بايد ويښ شي اوخپل حقوق ترلاسه كړي .

دهرات اوفراه په ولايتونوکي مجاهدينو ددښمن دري پوستي ويجاړي کړي

هرات :

دفراه له ولايت نه دميوبا خبريال خبرراكوي چي مجاهدينو دچنگاښ دمياشتي په ۱ نيټه ددغه ولايت دښنهنو پرهوائي وگراوخواشا امنيتي پوستو باندي دوړندو وسلو ډزي وكړي چي په نتيجه كي بي ددښمن دقواوو دري پوستي ويجاړي بوشميرعسكر اوملېشه مړه اوهم بي ۱۸ تنه نوروژوندي نيولي دي .

خبرزياتوي چي مجاهدينو پدغه عملياتوكي ددښمن له قواوونه دوه ميله هاوان ، دري ميله پيكا ماشيندار ، يومېل زيو(۲۱) ، (۲۵) ميله كلاشينكوفونه اويوه اندازه مهمات ولجه كړي دي . په خبركي دمجاهدينو دتلفاتو په هكله څه ندي ويل شوي .

دغه راز ديوبل خبرله مخي مجاهدينو دغبرگولي دمياشتي په ۳۱ نيټه دهرات ولايت دزنده جان ولسوالي پوري مربوط دلنگرخواجه په دشته كي دكابل دملحدرژيم پرقواوبريدوكړ دوه عرادي ټانكونه اويوه لاري بي ورځني سوځولي دي .

دخبرځاي دخبرله مخي پدغه جگړه كي ددښمن له قواوونه ۲۲ تنه عسكراوملېشه مړه او۲ تنه نوربي ټپيان شوي .

پدغه جگړه كي مجاهدينوته څه ځاني تلفات ندي رسيدلي .

شهادت
بیانگر عقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس : انجنیر حکمتیار
صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سال تاسیس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهیئت تحریر
تلفون : ۶۳۷۸۹ - ۴۰۲۲۴ پشاور
پوست بکس (۱۴٦۵) یونیورسټي ټاون - پشاور

نبوي ارشاد

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایي :
چاچي قرآن ولوست اویادیي کړ پاك خداي به یي جنت ته داخل کړي اوشفاعت به یي دده داهل بیت دلسوتنو په حق کي قبول کړي ، چي هغه ټول ددوزخ وړوي .
ابن ماجه

اسلامي حکومت له ظاهر او نجیب نه لاڅه چي دلودیځ له فرار یانو به هم پاك وي

لسیزي په کم وخت کي یي دنړیوال کفرماتې ولړزولې اواوس دنړي گردشیطاني ځواکونه دمسلمانانو دچټك پوځي پرمختگ له واره دحفظ ماتقدم په ډول په اسلامي هیوادونو کي دپنهادپرستي په نامه اسلامي خوځښتونه ټکوي، چي دگوزار ترټولو ستره نښه یي افغان مجاهدین دي، ځکه چي داسلامي ویښتابه دغورځنگ پیلامه دهمدوي له خواوشوه .چي نن سبایي خوځورنکو هنگامو گرده نړي تویاني کیږده . موږ لیږومیي ولیدل، چي د نړیوال کفرپه سرمشري امریکا داسلامي امت پرسینه دخلیج زخم جوړکړ . اودي ته سترگي پرلاري، چي دنتایجو دلاس ته راوړو په صورت کي خوبه یي لړترلږه اسلامي نړي مایوسه اواغفال شي . اوله ستره اسلامي ستونزو لکه دافغانستان ، فلسطین اونوروته به دمسلمانانو پام بل لورشي، خودشیطاني خیال او خوب داتعبیرسرچپه اودکابل دگوډاکي رژیم پرضد دمجاهدینو عملیات لاگرم او دستړو سوبو په لاس ته راوړلو منتج شول . له اسلامي نړي سره لاس وگریوان کفرپوځل بیادافغان جهاددسړولو لپاره په بوډول ټوولیو لاس پوري کړ، اودملگروملتونو دطرحي په نامه یي ځیني وړاندیزونه رامخ ته کړل، چي دلویدیځ خبري منابعو په ډیرشدت ابلاغ کړل ، اوهم دلویدیځ لاسپوځو اودمخلوع پاچاپلویانو پسي پاکستان ته دراتلو تکلیف هم وگاله . غورڅنگ مشکي دسویس دبهرنیوچارو وزیر په کابل کي ووېل، چي دافغانستان ربړه دگوډاکي نجیب له موجودیت پرته څه سرنښي موندلي، خوچي کله مجاهدینو ته وروگرځید، تودجهاد دسترصلاحیت لرونکي مقام له خوا ورته څرگنده شوه ، چي مجاهدین به دهغه ډول هرحل چي دپردوله خواپري زغمل کیږي، مخالفت څه چي ورسره به وجنگیږي .

اوداجدوجهد به ترهغي دوام ولري، چي دافغانانوپه خوښه اسلامي حکومت جوړشوي نه وي . همداډول هغه منځ لاري اومعتدل هم وغندل شول چي تل دجهادپرضد دداسي جرمونو مرتکب کیږي، اوزیاته شوه،چي داډول مجرمین به هیڅوك هم دمسلمان ملت له محاکمي ونه ژغورل . داسي ښکاري چي دسویس دبهرنیو چارو دوزیردسفر په پاي ته رسیدواودجهادي مقاماتو په نه تسلیمیدونکي هوډدنړیوال ښکیلاك له اړخه دگوحکومت شگه ووتله ، اوپخي اوبه پري توي شوي، پدي ترڅ کي هغه ولي هم چي تل دداډول لوبو دجوړیدو وظیفه پرغاړه لري، هم خاموشه اوچپ پاتي شوي . اودادي لامل کیدلي شي، چي دوي دمجاهد ملت له جهادي رجحانه وویریدل ، چي دخبروپه همدي دوران کي یي خبرتیاورکړل شوي وه ، دبحث پدي جریان کي ترټولو زیره رابښکونکي داوه ، چي دجهادي قیادت له خوا په څرگندوټکوکي روښانه شوه ، چي ظاهراو نجیب خولاڅه موږدلویدیځ تښتیدونکوته هم په اسلامي حکومت کي برخه نشو ورکولي، هغه ځوك چي نن سبا ځان دمجاهدینو خوا خوږي اودوستان بولي، خوپرون دمسلمان ملت دقرباني پروخت دلودیځ په زرستانو نرکي ارام وو . اوپدي توگه دلویدیځ خبرغوښتونکو ته په پریکنده ډول څرگنده شوه ، چي " زه دي پیري نه منم ، ته لامریدان نیسي " له پورتني خبرني جرتیږي ، چي ټینگ ایمان اوپریکنده دریځ ددښمن په وړاندي ترټولو ښه وسله ده ، پوي خواوبلي خوا ته پناه وړل ته اسلام دي، اوته دي پاڅیدلي ملت ته دخپل برائت کوم جواز. تومورپټولو مسلمانانو اوبیا له جهاد سره اړوندوخواوته دجهادي قیادت دټینگار داتجربه دلاري مشال کول غواړو، اوداځان اوجهان پیوندني لپاره ورته مومنانه فراست . څو دښمنان موږبیا لپاره دداډول جرئت فرصت ترلاسه نه کړي .

مبارزین فلسطیني سلاحهاي خود رابه اردوي لبنان تسلیم خواهندکرد

بیروت - ۱۵ سرطان :

انتظارمیرود مبارزین فلسطیني امروزشنبه اسلحه ثقیل ومتوسط خودرا به اردوي لبنان تسلیم دهند، تسلیمي اسلحه تقاضاي عمده معاهده ئي بود که روزپنجشنبه امضا شد وبه جنگ چهار روزه روي قلمرو تحت تسلط موسسه آزادي فلسطین درجنوب لبنان خاتمه داد . نشرات لبنان ازقول زیدوهابه نماینده موسسه آزادي فلسطین گزارش میدهد،که درحدود شش هزارمبارز فلسطیني ازلبنان تخلیه خواهند شد. وي هم چنان میگوید: اسلحه ایکه تسلیم داده میشود ملکیت موسسه آزادي فلسطین خواهد بودکه ازلبنان به بیرون آنکشور فرستاده خواهد شد .

سه نفرازصاحبمنصبان عالیرتبه رژیم در کندهار کشته شدند

کندهار - ۳۰ جوزا :

مجاهدین ولایت قندهارطي یك حمله غافلگیرانه بالاي چهاوني نظامي شهرقندهارواقع درمنطقه منزل باغ سه نفر صاحب منصبان عالیرتبه رژیم را به هلاکت رسانیده وسلاحهاي شان را به غنیمت گرفتند .

راپورعلاوه مي کند،درین عملیات که شب هنگام صورت گرفت بمجاهدین هیچ آسیبي نرسیده است .

په کابل ولایت کي دملحدرژیم دوي پوستي فتح اویوي ډیپو ته اورواچول شو

کابل - دچنگاښ ۱۰ مه :

دکابل ولایت دڅهاردهي ولسوالي دالقجر دجبهي لخځه دارسیدلي ریوټونه واني چي دتومورړي جبهي تومبالیو غازیانو دروان کال دچنگاښ دمیاشتي په ۱۰ مه نیټه دمیدان ښارډڅهاریندپه سیمه کي کمونستي پوستي ترخپلو بریالیو بریدونو لاندي ونیوي چي په نتیجه کي ددښمن دوي پوستي فتح ، ٦ کسه عسکرمړه او ۳ کسه ژوندي ونیول شول .

خبرڅاي لیکي دمجاهدینو پدي بریدکي ٦ میله کلاشنکوفونه یوميل پیکاماشینډار مجاهدینو په غنیمت نیولي .

دبوه بل خبرله مخي دتومورړي جبهي کفرځپونکو مجاهدینو دروان کال دچنگاښ دمیاشتي په ۹ مه نیټه دبوه توغندویي بریدپه ترڅ کي چي دمیدان په مرکز ئي ترسره کړ ددښمنو قواووپوځیپ موټرویجاړاوکي شمیر کمونستان ووژل شول .

همداراز دتومورړي جبهي تومبالیو غازیانودچنگاښ په ۱۱ مه نیټه په میدان ښارکي یوي دیپوته اورواچاوه اویوزغروال ټانك ئي ویجاړکړ .

دکشمیرپخواني صدراعظم ممتاز راهتورونیول شو

اسلام آباد - دچنگاښ ۱۵ :

په رارسیدلي ریوټونو کي ویل شوي چي دپاکستان مقاماتو دپاکستاني کشمیرصدراعظم ممتازحسین راتوردکارڅخه گوښه اوبندي کړي دي . وروسته له هغه چي تومورړي دتیري میاشتي دانتخاتو نتائج چي دده دپیپلز پارتي بابلودل ، بي اعتباره اعلان کړل. مرکزي حکومت ده ته دسختو اقداماتو څخه خبرداري ورکړي .

راتور ادعاکوي چي په دغو انتخاباتو کي دقدرت څخه دده دلري کولو اواسلامي محافظه کارانوته دقدرت ورسپارلو په غرض تګلې بره گي شوي ده دوي وائي دغه کاردپاکستان دصدراعظم نوازشریف په امروشو.دسیمي څخه راغلي ریوټونه وائي راتور وروسته له هغه ونیول شوچي یوځل دخپل دفترڅخه چي دده په سلگونو وسله وال ورباندي گرځیدلي وو په چل راوویستل شو دي وروسته په پوځي هلیکوپټرکي یوه نامعلوم ځاي ته یوړل شو . دکشمیر دستري محکمي رئیس دده په ځاي ټاکل شوي دي .

په خنجان کي دلاسپوڅي رژیم یوقوماندان له (۵۰) تنوملشیانوسره مجاهدینو ته تسلیم شو

بغلان - دچنگاښ ۱۰ مه :

دبغلان ولایت بهادروغازیانو دلاس پوڅي رژیم پرپرتو بریڅوداورلمبي بلي اوځیني نظامي قوماندانان ئي ځان ته تسلیم کړي دي . په هغه ریوټ کړي دختجانو له علاقداري څخه دشهادت ورځپاڼي اداري ته رارسیدلي ویل شوي : دروان کال دچنگاښ دمیاشتي په ۱۰ مه نیټه دلاس پوڅي رژیم یوقوماندان دقدائي په نوم سره له ۵۰ کسه وسلوالو ملشیانو دبغلان ولایت تومبالي اوکفرځپونکي قوماندان صوفي پاینده محمد ته تسلیم شوي دي .

اومجاهدینو دعمومي عفوي په اړه دهغوي تسلیمي منلي ده .

گورباچوف دیوگوسلاویا بحران دشوروي لپاره خبرداري گڼي

مسکو دچنگاښ ۱۵ :

په رارسیدلي ریوټونو کي ویل شوي چي دشوروي جمهوررئیس گورباچوف وایي په یوگوسلاویاکي دداخلي جنگ خطرباید په خپله شوروي ته دیوه خبرداري په توگه وگڼل شي . گورباچوف دیوگوسلاویا پربحران باندي په لمړني عمومي ویناکي وویل : دیوگوسلاویا بحران دشوروي تولو خلکوته یودرس دي ده وویل : داغیر ممکنه ده چي دده هیواددي ددغه بحران څخه ځان جلاوگڼي. اوخبرداري ئي ورکړ چي دهیوادتوټي .توټي کیدل به داسي نتائج ولري چي هیڅوك ئي پیش بیني نشي کولي مخکي دشوروي یوه هیئت پرپراگ کي داروپا دامنیت اوهمکاري دکنفرانس دهغه تصمیم په باب چي غواړي یوگوسلاویا ته دیوه ئیت پوهیئت ولیږي اندیښنه څرگنده کړیده شوروي داروپاکنفرانس ته وویل چي داخبره روښانه کړي چي دیوه ئیت هیئت دآینده بحرانونو لپاره یواساس او نمونه وي . شوروي په څرگنده توگه په دي باب اندیښنه لري چي دشوروي په داخل کي دخپلو اکي غوښتونکي جمهوریتونو په برخه کي هم دغه رازیوعمل لازم وبلل شي .

طوفان هاي ویرانکن ولسوالي کشم را ویران نمود

بدخشان ۲۹ جوزا :

راپورهاي رسیده از ولسوالي کشم بدخشان حاکیست:تکان هاي شدید زلزله همزمان با طوفان شدید باد وسرازیرشدن سیلابها،آبادي هاي این ولسوالي را ویران نموده است .

طبق راپور براثر این حوادث که همزمان رخداد ، قرائي تشکان ، تگاب ، غوري سنگ ، تگاب ده استایان ، سسکا وپادساز باخاك یکسان شده ، گفته میشود ۱۵ نفرازاهالي محلات نامبرده، کشته وعده زیادي مفقود الاثراند .

قابل تذکراست ، درسیلابهاي چندي قبل نیز ده هانفردربدخشان به هلاکت رسیده وهزاران هکتارزمین زراعتي زیرآب وبسیاري ازمنازل مسکوني بکلي ویرا ویاقسما خساره مندشده بود .

سومین حمله قواي رژیم ملحد ...

سرطان الي ۱۳ سرطان به شدت بمباردمان نمودکه درطول ۱۳ سال اخیر بي سابقه بوده که سبب شهادت ده ها کودك ، ریش سفید وزنان گردیده ، ده هاباب منزل مسکوني درشهرخان آباد بابکلي تخریب ویا خساره مند شده وباعث کشتارمواشي درشهروقریه ها درولسوالي خان آبا دگردیده است .

خبرادامه میدهد : که این بمباردمان هاکه از ارتفاعات بسیاربلند صورت مي گیرد اکثرا مناطق مسکوني هدف اینگونه بمباردمانها میباشد .

خبرعلاوه مي نماید : نیروهاي رژیم ازفاصله هاي دور توسط سلاح هاي دوربرد وراکت هاي اروگان شهر خان آباد را هدف قرارمیدهد که تافعلا باعث آتش سوزي هاي شدید دردکانها ومغازه هاي شهرگردیده واکثر فصل هاي زمین ها طعمه حریق گردیده است .

درخبرازتعداد تلفات درخان آباد گزارش داده نشده ولي تاکید شده که ده ها طفل وزن زخمي گردیده که به ادویه جات ضرورت زیاد احساس میشود . درخبرگفته شده جنگ دراین نواحي ادامه دارد .

نجیب وداروودسته اش ...

نخواهند داشت .

۲- مجاهدین به هیچ صورت نجیب وداروودسته اش را که قاتلین ملت اند طرف قضیه نمیدانند . بانجیب وداروودسته اش هیچ نوع مذاکرات انجام نمیدهد .

۳- تازمانیکه نجیب وداروودسته اش برسرقدرت باشند جهاد مسلحانه جاري بوده، وامکان هیچ گونه آتش بس وجود ندارد .

علاوه براین سه اصل مهم وحیاتي درجامعه اسلامي افغانستان ، این کمیسیون هیئت هاي سه گانه ذیل را ازجمله اعضاي کمیسیون تعیین نمود .

۱- هیئت چهارنفري که حیثیت رابطه بین رهبران جهادي، نیروهاي جهادي وکمیسیون تصویب طرح تشکیل دوره انتقالي دولت اسلامي افغانستان رادارد .

۲- هیئت سه نفري که مسئولیت نشر وپخش اخبار مربوط به کارکمیسیون را دراخبار محلي وجهادي بدوش دارد .

۳- هیئت سوم که متشکل ازپنج عضواست روي تسوید طرح تشکیل یك دوره انتقالي کارمیکند وبعدازغور وبررسي طرح مذکوررا به کمیسیون ارائه مینماید .

اعلان

جهاد حربي پوهنتون براي صنف اول خویش شاگردمي پذیرد به اطلاع آنعده برادرانیکه تحصیلات صنف دوازده ویامعادل آنرا داشته باشند رسانیده میشود که براي شمولیت درصنف اول جهاد حربي پوهنتون غرض ثبت نام ازتاریخ ۱۰ر٤ر۱۳۷ الي تاریخ ۳۱ر۵ر۱۳۷ به آدرس ذیل مراجعه نمایند .

مدیریت تدریسات جهادحربي پوهنتون مقیم خردلد کرم ایجنسي یاآمریت تعلیم وتربیه ریاست نظامي مقیم ورسك (پشاور) تاریخ امتحان کانکور بعدا اعلان میگردد .

کامي ته دمهاجرینو دستنیدو...

- ولسوالي په اسلام مین اوشهید روزونکي مهاجرین وغولوي په بولیټوتوطیو لاس پوري کړي وو چي دجهادي ځواکونو دخاصو جهادي شبکو له لوري کشف اولازم تصمیمونه پکي ونیول شول .

دروان کال دچنگاښ دمیاشتي په ۱٤ مه نیټه دپیښور ښار داشرفیه دارالعلوم دعبدگاه په جومات کي یوه لویه غونډه جوړه شوه پدي غونډه کي چي دټولو جهادي تنظیمونو نمایندگانو اودننگرهار ولایت جیدوعلماوو ، قومي مشرانو، اوقوماندانانو برخه اخستي وه دقرآن عظیم الشان دڅومبارکو آیاتونوپه تلاوت پیل شوه .

دغونډي په سرکي دغوریزو مولوي صاحب ارزښتناکه وینا وکړه ، او ددښمنانوورووستي توطیي گومي ئي چي، دهجرت په مقدسه لاره کي پکاراچولي وي په مسننو دلاتلو مردودي کړي .

دهغي نه وروسته مولوي صاحب " فیاض " داتحاد اسلامي په نمایندگي ،شهزاده‌خان دجمعیت اسلامي په نمایندگي ، مولوي صاحب عطاوالله دحزب اسلامي په نماینده گي اودکامي ولسوالي دمرمندودجبهي عمومي قوماندان دټولو مجاهدینو په نمایندگي عالمانه وینانوي وکړي اوبرخوال ئي دوروستیو توطیو دبیخي نابودولو لپاره خپلو مسئولیتونو ته متوجه او دټولو جهادي قوتونو څخه ئي ددي فتني دمخنیوي په خاطر دهرراز همکاري غوښتنه وکړه . دغونډي په پاي کي مجاهد وررور باورخان دحزب اسلامي دنظامي کمیټي کارکونکي لوموړي عالمانه وینا وکړه چي دبرخوالو په کفرځپو نکوشعارونو بدرگه شوه غونډه دغرمي په ۱۲ بجو دبرخوالو په دوعاسره پاي ته ورسیده .

سلوانیادرویشت سوه یوگوسلاوي عسکرخوشي کړي دي

یوگوسلاویا دچنگاښ ۱۵:

په ریوټونو کي ویل شوي چي سلوانیا په یوگوسلاویاکي دداخلي جنگ دمخنیوي په منظوردمرکزي پوځ د دوه زره اودري سوونه زیات نیول شوي عسکرخوشي کړي.په سلگونو عسکرچي په وروستیو نښتوکي نیول شوي پرون دسلوانیا په مرکزکي په بسونو او اورگاډوکي.روان شول .

دوي په خپلو خپلوجمهوریتونو کي دسره صلیب مقاماتو ته وروسپارل شول دسلوانیا داطلاعاتو وزیرپلکو کولچین په لوډیانا کي یوه خبري کنفرانس ته وویل چي سلوانیا په تیرو دوو ورځوکي دخپلي امنیتي قو ي لس زره تنه افراد خلع سلاح کړي دي اوتقریبا پنځه ویشت زره تنه عسکراوس هم خپلي وظیفي اجراکوي په سلوانیا کي چي تیره هفته مرکزي پوځ دهغه جمهوریت دخپلو اکي غوښتنو دتحریك دځپلو لپاره مداخله په کښي وکړه هره گړي ماتیدونکي اوربند تراوسه پوري ټینگ کړي .

په میدان ښارکي ددښمن (۹) زغروال ټانگونه ویجاړ اوگڼ شمیرگلم جمان ووژل شول

وردگ میدان دچنگاښ ۲ مه :

دوردگوامیدان ولایت په مرکز میدانښار باندي دمجاهدینو درانده گوزارونه دوام لري اولاس پوڅي رژیم ته ئي دځان اومال درانده تاوانونه واړولي دي ، په هغه ریوټ کي چي دتومورړي ولایت له مرکز میدان ښارڅخه ترلاسه شوي ویل کیږي :

دروان کال دچنگاښ دمیاشتي په ۲ مه نیټه مجاهدینو دبولي بریالیو عملیاتو په لړکي چي دقول ملاوردگ په سیمه کي ئي سرته ورسول ددښمنو قواووډزي ټانکونه ویجاړ اودده پاك په سیمه کي ددښمن یوه دبي ایم ٤۱ دستگا له مینځه لاړه .

همدارازمجاهدینو دچنگاښ دمیاشتي په ۸ مه نیټه دمیدان ښارپه شمال ختیزه سیمه کي دقوماندان پهلوان ترمشري لاندي دبولي نورو عملیاتو په بهیرکي ددښمن دوه زغروال ټانکونه ویجاړاو ۷ کسه گیلم جم نومي ملشیان ووژل شول .

دیوه بل خبرله مخي مجاهدینو دچنگاښ په اوومه نیټه دسفید خاك په سیمه کي له دښمنو قواووڅخه دوه نور زغروال ټانکونه ویجاړکړي اودښمنو قواووته ئي دځان اومال درانده تاوانونه اوړولي دي په خبرکي داهم ویل شوي چي پدي عملیاتوکي له مجاهدینو څخه دوه کسه دشهادت لوړمقام ته رسیدلي روح بي دي ښاداوپادتي دي همیشه

وردگ میدان دچنگاښ ۵ :

دوردگوامیدان ولایت دبیروحتي دجبهي تومبالیو غازیانو دکمونست رژیم په پرتو قواوو مرگوني گوزارونه کړي، اووړته ئي دځان اومال درانده تاوانونه اړولي دي په هغه ریوټ کي چي دتومورړي جبهي له عمومي قوماندان الجنیر عبدالله څخه ترلاسه شوي ویل کیږي :

دروان کال دچنگاښ دمیاشتي په ۵ مه نیټه دبیروحتي دجبهي تومبالیو غازیانو دمیدان ښارپه دوه کیلومتري دسفیدخاك په سیمه کي دبولي بریالیوعملیاتو په بهیرکي ددښمنو قواوو دري زغروال ټانکونه ویجاړاوبیکي سپاره کمونستان ووژل شول خبرڅاي لیکي پدي عملیاتوکي له مجاهدینو څخه دوه کسه ټیپان اویوکس دشکرالله په نوم په شهادت ورسید روح بي دي ښادوي .

خبرزیاتوي چي ملحد وقواووتراوسه هیڅ پرمختگ ندي کړي اودمجاهدینو مورال ډیراوچت دي .

پانگوالي نظام اوسوسیالیزم ...

وضع له کنترول څخه و ټوځي او پروسترویکا پر مخ لاړه شي . گورباچوف به دخپلو اصلاحاتو لپاره دلویدیزوالودمرستي معامله دجولاي په ۱۷ (دسرطان په ۲۷) امریکا، جاپان ، جرمني، فرانسي ، بریتانیي ، ایتالیي اودکاناداد مشرانو ته وړاندي کوي، هغه ووېل چي ټولي نړي ته دپروسترویکا ضرورت دي، پداسي حال کي چي په روس لویدیزکي ځیني خلك فکرکوي چي یوازي اوياختیزه اروپا کي دتبدیلي ضرورت دي. هرڅوك دي دانتخاب دآز ادي احترام وکړي اودخپل پرمختگ نمونه دي پرنورو نه تپي. گورباچوف اوسالنیاس په خپلو هیوادوکي داصلاحاتو په ارتباط دنظرونو تبادله وکړه اودواړو تدریجي پرمختگ غوره وباله اوناڅاپي اویودمي تبدیلي بي ردکړه .

به سخنان اتحاد خواهان تفرقه جو ، اصلاح طلبان درخدمت دشمن ونقادان حسود که هدفي جز متلاشي ساختن صفوف واشاعهٔ یأس درمیان مجاهدین راندارند،گوش ندهید